Made with Xodo PDF Reader and Editor

# ډېرې لنډې د فکر وړ خبرې

أدهم شرقاوي
"قس بن ساعدة"

ژباړن
دکتور رحمت الله زاهد

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پیسي خو هسې یو رواج دی د ثواب پکې څه نشته
زما په جنازه کې دې تقسیم شي کتابونه

بسم الله الرحمن الرحیم


رحماني کتابتون

د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 یادونه : په ټلیګرام کې رحماني کتابتون په سرچ
سره هم پیدا کولای شئ که ئې په انګلسي سرچ
کړئ یا هم پښتو ملګرو .!

🔎 Rahmani library
🔎 رحماني کتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ډېرې لنډې

# د فکر وړ خبرې

ادهم شرقاوي
قس بن ساعده

ژباړه
دکتور رحمت الله زاهد

۱۴۰۳هـ. ش/ 2025م

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بسم الله الرحمن الرحيم

# د ژبارن سريزه

د ستر مفهوم لپاره لنډې جملې کارول د بلاغت د علم اړوند مهم فن دی چې په بشري ټولنو کې ورته ځانګړې حيثيت په برخه دی، خو په عربي ژبه کې دغه چاره ډېره لوړه مرتبه لري او د قرآن کريم د نزول په وخت کې د قريشو اديبانو شاعرانو، ليکوالانو او خطيبانو به هڅه کوله چې په لنډو جملو کې خپلې موخې بيان او خلکو ته ورسوي.
هم دغه لامل و چې مونږ ګورو د قرآن کريم د مکي دور سورتونه لنډ او په لنډو آياتونو مشتمل دي، چې هر يو آيت يې د ځان سره ستر مفاهيم لري چې د مسلمانانو په تفسيرونو کې يې وضاحت شتون لري، په دغه توګه د اسلام ستر پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) ته (جوامع الکلم) ورکړل شوي وو، په دې معنا چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ډېر ستر مفاهيم په لنډو ټکو کې وړاندې کړي دي چې د حديثو په سترو ذخيرو کې

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شتون لري.
په اوسني عصر کې په ټولنيزو رسنيو کې هم تر ډېره بريده هڅه کېږي چې ليکوالان خپل افکار په لنډو جملو کې لوستونکو ته وړاندې، ځکه عموما اوږدې ليکنې په ټولنيزو رسنيو کې مينه وال نه لري.
ادهم شرقاوي چې يو فلسطيني مشهور ليکوال دی، هغه هم په «ټويټر» کې خپلې ليکنې په يو کتابي شکل کې راجمع کړي او د «تأملات قصيرة جدا» په نوم يې د چاپ په ګانه ښائسته کړي دي چې مونږ يې پښتو ژباړه د «ډېرې لنډې د فکر وړ خبرې» په نوم مينه والو ته وړاندې کوو، ما هڅه کړې روانه ژباړه وکړم، ځينو ځايونو کې مفهوم بيان کړم، يو څه غير اړين شيان ترې حذف کړم، څه کې د اړتيا مطابق بدلون راولم، او د ځينو شيانو وضاحت په حاشيه کې وکړم، الله دې وکړي دغه کار د لوستونکو د خوښې وړ وګرځي.

**دکتور رحمت الله زاهد**

**جلال آباد/ ننګرهار**

**۲۰/دلو/۱۴۰۳**

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## د لیکوال سریزه

کله چې به کومې عربي قبیلې ته د شاعر زیرې ورکړل شو، نو درې ورځې به یې په خپل سیمه کې اور بلولو، دوی په قصیدو مئین و او بلاغت به په مستی راوستل او په خبرو کې لنډوالي په دوی کې دومره مرتبه درلوده چې د کلام بل هیڅ فن نه درلوده، په دې کار کې د پخوانیو په نقش قدم وروستني هم روان شو، د لغت امام جرجاني (رحمه الله) وایي: «بلاغت ایجاز ته وایي».

کله چې یو خلیفه اراده وکړه چې په «قم»[1] کې خپل والي له دندې گوښه کړي، نو خپل سکرتر ته یې وویل: هغه ته د گوښه کېدو لنډه لیکنه ولیکه، نو سکرتر داسې ولیکل (اِلی والي قُم، اِنا عیناک فعزلناک فقم)، «د قم والي ته، ته مونږ مقرر کړی وې او اوس مو گوښه کړې نو پاڅه».

د بلاغت ښښتنانو به اوږدې خبرې بدې گڼلی، مگر دا چې اړتیا به وه او

---

(۱) «قم» په اوسني ایران کې د یو ښار نوم دی چې مذهبي شهرت لري.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



یا به یې تفصیل غوښته.

دا به مې مبالغه نه وي کړي چې «ټویټر»(۱) عربي ژبې ته ستر خدمت ترسره کړ شي چې لیکوال یې په یو پیغام کې یوسل او څلویښتو تورو ته پابند کړ، چې له امله یې لیکوالانو هڅه وکړه او خپل عقلونه یې په تورو کې وکارول او د مفرداتو په قیمت یې د شکل قوي کولو او فکر کره کولو ته پاملرنه وکړه، دا د بلاغت یو بل تعریف دی، چې د لیکوالانو تر منځ غوراوی په کمو مفرداتو د ښه فکر په وړاندې کولو سره کیږي.

دا خبره ما د دې لپاره نه ده کړې چې زه د بلاغت دعوه وکړم او یا خپل ځان ته د ښه عبارت نسبت وکړم، ما غوښتل یواځې لوستونکي ته د دې کتاب په اړه لږ شان معلومات ورکړم، دا چې ستاسې مخې ته څه دي، دا د «ټویټونو»(۲) څخه عبارت دي، چې د الله تعالی په فضل یې د کتاب بڼه غوره کړه، بیا یې د چاپ رڼا ولیده، زه د لوستونکو لپاره خوندوره لوستنه غواړم.

**أدهم شرقاوي**

**قس بن ساعده**

---

(۱) اوسنی «اکس» (X).

(۲) په «ټویټر» کې لنډ لیکلي پیغام ته «ټویټ» وایي.

CS CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor

RAHMANI
LIBRARY
رحمـــــاني کتابتون

زما ګرانه وروره  او ګرانې خوري ! 💐

منم چې ته د کتاب مینوال / مینواله یې .!
ایا په خپل چاپیریال کې مو ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان هم مطالعه کوي ؟
که مو ځواب هو وي خو ډیر ښه خپل مسؤلیت مو په په سمه توګه ادا کړی
او سل ځله دې در باندې آفرین وي ، خو که دغه کیسه برعکس وي او ستا
ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان او داسې نور ، په مطالعه نوې روږدې نو زما په
نظر ته خود خوا او مجرم یې .!
ځکه چې تا د کتاب لوستلو خوند څکلی ، نو تا باید نور خلک هم د کتاب
له دې نا آشنا خوند سره بلد کړې وای ، نو راشه اوس هم نده نا وخته راشه
اوس یو ځای  کتاب لوستلو ته خلک وهڅوو .!
تر څو آینده نسل مو تعلیم یافته او د نړۍ سیال وي .!

د سرلوړې اباد او سوکاله افغانستان په هیله .!

په درنښت | د رحماني کتابتون اداره 📚

د رحماني کتابتون سره د یو ځای کیدو لپاره له انټرنیټ سره وصل شئ ،
او تاسو باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ بیا په  دغه لاندي [ Join ] بټنه
باندې کلیک وکړئ ، تر څو زمونږ د کتابتون له کورنۍ سره یو ځای شئ .!

JOIN

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱﴾

مخکې له دې چې چا ته د خپلوانو له امله پیغور ورکړې، یاد ساته چې:
نوح (علیه السلام) نافرمانه زوی درلود.
ابراهیم (علیه السلام) مشرک پلار درلود.
لوط (علیه السلام) کافره میرمن درلوده.
بې بې آسیې داسې خاوند درلود چې ویل یې: «زه ستاسې لوړ خدای یم».
او محمد (صلی الله علیه وسلم) د «لهب» په نوم کاکا درلود.

﴿۲﴾

چا چې ستا په وړاندې عاجزي وکړه، داسې یې پورته کړه چې هغه گمان وکړي، ته له هغه پرته بل څوک نه وینې او چا چې پر تا تکبر وکړ، داسې یې ښکته کړه چې فکر وکړي، ته هغه نه وینې.

﴿۳﴾

یواځېتوب دا دی چې تا هغه شخص مات کړي چې تا ډېرې وخت د هغه په جوړولو تېر کړی و.

﴿۴﴾

تر ټولو زړور هغه دی چې په گناهونو کې بزدله وي.
په خلکو کې تر ټولو لوی هغه دی چې د حق په وړاندې کوچنی وي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۵﴾

ځینې خلک له لیرې ښائسته ښکاري، نو د ځان او د هغوی تر منځ فاصله وساته، هم دا فاصله ده چې ځمکې ته د لمر رڼا او تودوخه ورکوي، هم دې فاصلې ځمکې ته ښودلي چې نږدیکت سوزل دي.

﴿٦﴾

داسې څوک پیدا کول آسان دي چې شکایت ترې وکړې، خو داسې څوک پیدا کول سخت دي چې شکایت ورته وکړې.
داسې څوک پیدا کول آسان دي چې خبرې پورې وکړې، خو داسې څوک پیدا کول سخت دي چې خبرې ورته وکړې.
داسې څوک پیدا کول آسان دي چې ترې وتښتې، خو داسې څوک پیدا کول سخت دي چې ورته وتښتې.

﴿۷﴾

هغې ته یې وویل: مالګه راکړه.
هغې ورته وویل: زه یې درته واچوم؟
ورته یې وویل: نه، زه یې پخپله اچوم، ځکه ستا په ګوتو کې به مالګه شکر شي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۸﴾

﴿فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ﴾

«خپل قوم يې ذليل کړ، نو هغوي يې پيروي وکړه».

هم دا په کائناتو کې د الله قانون دی

چېرې چې بې عقله شتون ولري، هلته ظالمان پيدا کيږي.

﴿۹﴾

د نورو د غلام جوړولو تر ټولو غوره لار محبت دی، پرته له دې چې د هغوی د انسانيت سپکاوی وشي.

﴿۱۰﴾

خوب بې خوبی ته وويل: راځه تقسيم وکړو.

ستا هغوی شو چې سپينو بالښتونو ته پاملرنه کوي

او زما هغوی شو چې سپينو زړونو ته پاملرنه کوي

هم له هغه ورځې څوک خوب کوي او چا ته خوب نه ورځي

که بې خوبي درته پيدا شوه نو خپل زړه ته پاملرنه وکړه.

﴿۱۱﴾

هغه چا چې له ليکلو وروسته خط په شيشيي بوتل کې بند او په بحر کې وغورزولو، ښه پوهيده چې بحر چا ته د پوست د کارمند کار نه کوي، خو کله کله يواځې ليکل هم اړتيا وګرځي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۲﴾

دوه کسان د دې آیت په معنا ښه پوهیږي:

﴿وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا﴾، «مونږ شپه لباس گرځولې ده».

یو هغه غل چې غواړي غلا وکړي، پرته له دې چې څوک یې وگوري

او بل هغه زړه ماتی چې غواړي ښه وژاړي پرته له دې چې څوک پرې خفه شي.

﴿۱۳﴾

ای نړی! له نن وروسته دواړه یو شان شو:

تا زما د عقل وروستی غاښ هم وویستو.

﴿۱٤﴾

هغې ورته وویل: بله ښځه وکړه ځکه بچي درلودل ستا حق دی

هغه ورته وویل: د کوم ماشوم چې ته مور نه یې، زه یې زیږول نه غواړم.

﴿۱۵﴾

هغه حقیقت چې دوه کسان په کې اختلاف نه لري، مرگ دی چې مونږ ورسره داسې چلند کوو لکه چې دا چې هسې خیال وي.

او هغه خیال چې دوی کسان په کې اختلاف نه لري، هغه تلپاتې کېدل دي، چې مونږ ورسره داسې چلند کوو، لکه دا چې حقیقت وي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۶﴾

نړۍ ته مونږ داسې یو لکه د سوند د موادو تم ځای.

﴿۱۷﴾

له هغه څه نه چې ما تجربه کړي، لوستلي، اوریدلي او لیدلي دا دي چې: د سړي زړه داسې دی لکه د موټرو تم ځای، هر څوک ورځي خو مالک کیدی یې نه شي او د ښځې زړه داسې دی لکه مرمۍ او سیګرټ چې یواځې یو وار کارول کیږي.

﴿۱۸﴾

اوده ملت راویښول له دې ډېر آسان دي چې ته هغه ملت راویښ کړې چې ویده کېدل غواړي.

﴿۱۹﴾

کله چې د حق او قوت لارې جلا شي نو بیا د خلکو اصل معلومول آسانه شي.

﴿۲۰﴾

کم معاش ستونزه نه ده، خو د لوړو معاشونو لرونکي تا ته داسې ښایې چې ګنې کم معاش ستونزه ده.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**﴿۲۱﴾**

چوپتیا حکمت نه دی، بلکه د بزدلو خلکو وسیله ده تر څو ځان د حکمت د څښتنانو په کالیو کې پټ کړي،

د نړۍ پر مخ په چیغو وایه: تباه شئ زه د ژوند لپاره راغلی یم،

زه به ژوند کوم، که څه هم زما د ژوند یواځینی لار مرگ وي.

**﴿۲۲﴾**

مونږ نظافت خوښوونکی ملت یو، ځکه خو د مړو لمبوونکو او د مال سپینوونکو عزت کوو.

**﴿۲۳﴾**

که چیرې دوستي د خاورې سره وی، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به مکه نه پریښودی

او که د قوم سره وی نو د قریشو سره به یې جگړه نه کولی

او که د کورنۍ سره وی نو د ابو لهب څخه به نه بیزاره کیدی،

خو دا عقیده ده چې د خاورې او وینې څخه ډېر ارزښت لري.

**﴿۲۴﴾**

که د خپلو اصولو پوره کول دې په توان کې نه وي، نو طریقه بدله کړه، اصول مه بدلوه، ځکه چې ونې پاڼې بدلوي خو زیلې (جرړې) نه بدلوي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۵﴾

نوح (عليه السلام) حيواناتو ته يو وار آواز وکړ، هغوی په کښتۍ کې سپاره شو،
خلک يې ۹۵۰ کلونه دعوت کړ، خو هغوی ډوبيدل غوره کړل،
سليم فطرت د مريض عقل څخه غوره دی.

﴿۲۶﴾

که د چا دا فکر وي چې د غربت له منځه وړل معادنو ته اړتيا لري،
نو عمر بن عبد العزيز (رحمه الله) ته دې وګوري،
کار په لاس کې د شيانو په شتون کې نه دی،
بلکه د هغې په اداره کولو کې دی.

﴿۲۷﴾

که د چا فکر دا وي چې ثابت قدم پاتې کېدل ډېرو وسلو ته اړتيا لري،
نو «قسام» ته دې وګوري،
خبره د ټوپک نه ده، بلکه د هغه لاس ده چې ټوپک ورسره وي.

﴿۲۸﴾

له هيڅ چا څخه مه ناهيلی کيږه، څکه کوم ساحران چې د موسی (عليه السلام) مقابلې ته راغلل، اعدام شول، خو له دين څخه په شا نه شول.
او په چا ډېر باور هم مه کوه، څکه څوک چې د موسی (عليه السلام) سره د بحر څخه تير شول، هغوی د خوسي عبادت پيل کړ.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۹﴾

سپي له هوسۍ څخه پوښتنه وکړه: ولې هر وخت زما څخه مخکې کيږې؟
هغې ورته وويل: ځکه زه د ځان لپاره او ته د بادار لپاره ځغلې
که د حق لپاره هوسۍ نه شې جوړيدی
د باطل لپاره خو سپی مه جوړيږه.

﴿۳۰﴾

هدهد (ملا چرگک) د يو ملت لپاره د اسلام لامل شو،
ميږي د يو لښکر لاره بدله کړه،
کارغه انسان ته د ښخولو چل زده کړ،
ماهي پيغمبر ته پناه ورکړه
او فيل (هاتي) د کعبې ورانول پريښودل
خو ډېری انسانان داسې وي لکه حيوانات، بلکه له هغوی هم بدتر وي.

﴿۳۱﴾

په دې نړۍ کې ډېری خلک د چاغوالي له امله له ډوډۍ څخه تيښته کوي، خو نور يې تر شا د لوږې له امله منډې وهي.

﴿۳۲﴾

ټول مې چاپيره شته دی
خو ستا پرته يواځې يم.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## (۳۳)

خلک د رسنیو په خبرونو کې د ویر لپاره شمیره ده
په خوړنځایونو کې د خوراک لپاره خولې دي
په بانکونو کې د لوټلو لپاره جیبونو دي
او په زندانونو کې د وهلو لپاره شاګانې دي
اوس په مونږ کې یو شخص بل ته د انسان په سترګه نه ګوري.

## (۳٤)

تر ټول ترخه تسلیمي دا ده چې یو سړی هغه میرمن ته وایي چې محبت ورسره لري:
ما په پوره شرافت سره ستا د خپلولو لپاره جګړه وکړه،
خو شریفان هم کله کله په جګړه کې ماتې خوري
او بیا شا کړي او د ماته خوړلي لښکر په څیر روان شي.

## (۳۵)

کله چې کوچنی وم نو هغه وخت به مې جنجال کولو چې مور به مې راته د قمیص توکمې تړلې او یا به یې راته ویښته ګمونځول
او غوښتل به مې چې په بیړه بهر ووځم
خو اوس ټوله دنیا د دې په بدل کې ورکولو ته تیار یم چې یوه توکمه راته وتړي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۳٦﴾

### ﴿د حجاب په اړه﴾

دوی فکر کوي اسلام خیاط دی، کالي یې جوړ کړي دي
بیا یې مسلمانې میرمنې د هغې په استعمال مجبوره کړې دي
په دې نه پوهیږي چې اسلام ادب دی، اخلاق یې بیان کړي دي او مسلمانو میرمنو داسې لباس غوره کړی دی کوم چې د دوی د اخلاقو سره برابر دی.

## ﴿۳۷﴾

په دې زمانه کې دا ډېره عادي خبره ده چې ته داسې څوک بیامومې چې تا یې د پیاوړې کولو هڅه کړې، خو هغه ستا د ویخ څخه د ویستلو هڅه وکړي.

## ﴿۳۸﴾

هغه لار چې ټول پرې روان وي، خطا ده
هغه لار چې هیڅوک پرې نه ځي، خرابه ده
هغه لار خپله کړه چې لږ خلک پرې روان وي
او د دغه خلکو سره ملګرتیا وکړه.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۳۹﴾

روغ انسان په ترسره شوې خطا پښیمانه کیږي
پاک انسان په هغه ښه کار پښیمانه کیږي چې نه یې وي ترسره کړی.

﴿٤٠﴾

د ملخ په څېر لوستل مه کوه چې موخه یې مخ ته پرته پاڼه ختمول وي
بلکه د مرغۍ په څېر یوه یوه دانه لوله.

﴿٤١﴾

مالداري دا نه ده چې ته ټوله دنیا واخیستل شې
بلکه مالداري دا ده چې ټوله دنیا یوځای شي او تا وانخیستی شي.

﴿٤٢﴾

یو اویا کلن سړي راته وویل:
کومه میرمن چې تا سره مینه لري، د هغې لپاره مه پریږده چې ته ورسره مینه لرې،
څنګله ته د سیګرټ بلولو لپاره اور مه اچوه
او له مرګ څخه مخکې یاد لره چې ته ژوند کول غواړې.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿٤٣﴾

ما ډيرى ځله له خپلې نيا څخه اوريدلي دي:
«څوک د عمر د کم والي له امله نه مړ کيږي»
الله دې پرې رحم وکړي، هغه مخکې له دې وفات شوه چې ورته ووايم:
يو څوک د عمر د کموالي له امله نه مري کيږي
خو ډيرى د ژوند د کموالي له امله مړه کيږي.

﴿٤٤﴾

آخري خبره يې راته دا وکړه:
زويه! زما نصيحت تا ته دا دى چې ته پخپله شه
پوهيږم چې ته به ما ته غوږ ونه نيسې او هڅه به کوې چې بل څوک شې
خو يوه ورځ به پوهه شې چې ژوند يواځې د هغه چا نومونه ساتي چې هغوى پخپله وو.

﴿٤٥﴾

کله چې د ابراهيم (عليه السلام) زړه په اسماعيل (عليه السلام) پورې وتړل شو، نو الله ورته د هغه د حلالولو امر وکړ
او کله چې د يعقوب (عليه السلام) زړه په يوسف (عليه السلام) پورې وتړل شو، نو هغه يې ترې واخيست
الله تعالى خپل خوښ انسانان د هغه چا له امله ازمايي چې دوى ورسره مينه لري، تر څو ځان ته يې ځانګړي کړي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿٤٦﴾

د کښتۍ [۱] څښتنان مړه شول، خو دا ورته معلومه نه شوه چې که هغه
څیرې شوې نه وی نو له لاسه یې ورکوله
او د هلک [۲] کورنۍ مړه شوه خو دا ورته معلومه نه شوه که هغه مړ نه وی
نو دوی به بې لارې شوی وی
پاک دی هغه ذات چې د لوی مصیبت څخه د ژغورنې لپاره په وړوکې
مصیبت اخته کول کوي.

## ﴿٤٧﴾

په شخصي توګه د اسلام په اړه د دښمنانو لخوا دومره نه ډاریږم
څومره چې پرې د پیروانو لخوا ډرایږم.

## ﴿٤٨﴾

په اوږده او معاصره عربي ژبه کې وطن
د ځمکې هغه ټوټه او د خلکو هغه مجموعه ده
چې واکمني یې د یو سړي په لاس کې وي.

---

(۱) هغه کښتۍ چې خضر (علیه السلام) ترې تخته ویستلی وه، دغه قصه د کهف په سورت کې شتون لري.

(۲) هغه هلک چې خضر (علیه السلام) وژلی و او موسی (علیه السلام) پرې نیوکه کړې وه، قصه یې د کهف په سورت کې ده.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿٤٩﴾

زما په نه شتون کې ستا څخه یو شی کم وي
خو ستا په نه شتون کې زما څخه ځان کم وي.

﴿٥٠﴾

غم داسې دی لکه مکتب
سترې کوونکی او دروند دی، خو د پوهې تر لاسه کولو لپاره غوره ځای دی
او خوښي داسې ده لکه قهوه خانه
تسلي ورکوونکی او آسان دی خو تا ته هیڅ شی نه زده کوي.

﴿٥١﴾

یوه میرمن وه چې د قدم لاندې یې لیکل شوي و:
«باید هیره نه کړل شی».

﴿٥٢﴾

یواځیتوب د ماتې څخه سخت دی
مونږ ته ماتې دښمن راکوي
خو یواځیتوب د دوستانو له اړخه وي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۵۳﴾

له بده مرغه مونږ د بخاري پلاؤ په اړه
د صحیح البخاري څخه ډېر معلومات لرو.

﴿۵٤﴾

خلکو د زخم لپاره د صبر په څیر پټۍ نه ده پیژندلې
او نه یې د شکایت په څیر چټل بنداژ پیژندلی دی.

﴿۵۵﴾

د ژوند تر ټولو مهمه قاعده دا ده چې
ته په دې پوهه شې چې د ژوند لپاره هیڅ قاعده نشته.

﴿۵٦﴾

مونږ په نفطو کې خپله برخه نه غواړو
فقط دا معلومول غواړو چې ولې د یو بیلر نفطو د قیمت لوړېدو سره زمونږ
قیمت کمیږي؟

﴿۵۷﴾

د یوسف سورت ټول ژوند دی کله چې ترې قصه جوړه شي:
په یو عبارت کې د پلار مینه، د ورونو تربګني، د میرمنو عشق
د زندانونو معلومات، د سرچینو اداره او د ګاونډي سره د دولت اړیکه
شتون لري.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۵۸﴾

اى هغه خلکو چې د نسبي برابرى د نشتوالي له امله خپلې ميرمنې طلاقول غواړئ!

حبشي بلال، رومي صهيب او فارسي سلمان جنت ته لاړل او قريشي ابولهب دوزخ ته لاړ.

﴿۵۹﴾

يوه ورځ مې دوا فروش ته وويل:

ما ته مې د مور گوتې راکړه!

هغه راته وويل: ستا د مور گوتې څه شى دي؟

ما ورته وويل: د فکرونو درمل.

پخوا چې به کله فکر واخيستم نو مور به مې په سر لاس راښکل تر هغې چې زه به ويده شوم.

﴿۶۰﴾

د علم په څلورو کې درې برخې دا دي چې

د خپلې ناپوهى د پېژندلو طريقه وپېژنې.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



{۶۱}

مونږ چې د چا مرتبې ته ښکته کېدل نه غواړو
هغوی په دې نه پوهيږي چې د ځان لوړولو او تکبر تر منځ توپير شته،
د ځان لوړول هغه نصيحت ته ورته دي چې مونږ ته به په کوچنيتوب کې
زمونږ کورنی ويل: ځان د کوڅو د هلکانو څخه وژغورئ.

{۶۲}

د جنت او دوزخ تر منځ توپير دا دی چې:
جنت يوه او ورده لار لري
خو د دوزخ لپاره ډېرې لنډې لارې شتون لري.

{۶۳}

که اسلام دفن کېدی شوی، نو په مکه کې به دا کار شوی وی
که محاصره کيدی شوی، نو په خندق کې به شوی وی
که له منځه تلی، نو تاتاريانو به له منځه وړی وی،
اسلام يوه قافله ده چې روانه ده او سپې ورته غاپي.

{۶۴}

نبوي هجرت ډير ښه فرصت دی چې
وطنپالو ته دا يادونه کوي چې دين له هيواد څخه ډير ارزښت لري
او اسلامپالو ته ښودنه کوي چې کوم ځای هم دين برلاسی وي، هم هلته
ستا هيواد دی.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿٦٥﴾

په دوی کې به یو منبر ته پورته شي
او د هغې میرمنې په اړه به خبرې کوي چې د یوې پیشو د بندولو له امله دوزخ ته تللې وه،
بیا به په خپل قیمتي موټر کې د زندان په خوا تېرېږي او د هغه خر په څیر به خاموش وي په کوم چې کتابونه بار وي.

﴿٦٦﴾

د کهف په سورت کې یادو شوو ځوانانو
د خندقونو د څښتنانو[1] په قصه کې راهب
د هجرت په وخت کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم)
دوی ټولو غارونو ته پناه وړې وه
کله چې د انسانانو زړونه سخت شي، نو دې دین ته د غرونو زړونه نرم شي.

﴿٦٧﴾

په هغه خلکو شفقت وکړه چې د ګول ساتونکي په څیر ژوند کوي
تل په تشویش او تشویقولو کې وي، دوی ته د دښمنانو او دوستانو د خطر پایله یو شان وي.

---

(۱) دې قصې ته د دیرشمې پارې د بروج په سورت کې په (اصحاب الأخدود) سره اشاره شوې ده، تفصیل یې په حدیثو کې دی.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۶۸﴾

د سهار په لمونځ کې د اوږده عمر لرونکو
لاسونه ګونجې خو زړونه يې ډېر په ښه شکل اوتو شوي وي.

## ﴿۶۹﴾

ښکاري د هغه غنمو له امله چې په قفص کې يې بږدې،
د مرغۍ په نظر کې د زندان د ښتن په توګه ښکاره کېږي
او کله هم ورته مرغۍ د مشر په توګه نه ګوري
خپل عقلونه لوی کړئ څکه مرغۍ هم په ډوډۍ نه اخيستل کېږي.

## ﴿۷۰﴾

حيواناتو هم د خپل توپير ساتنه کړې ده
مونږ ګورو چې څينې حيوانات آشنا کېږي او څينې يې داړونکي دي
خو يواځې مونږ يو چې ټول داړونکي شوي يو.

## ﴿۷۱﴾

زمونږ په زمانه کې لوړ خلک
هغه ځوانان دي چې په خندقونو کې شپې تېروي، په يوه سترګه څوکی کوي او په بله سترګه د الله له ويرې ژاړي
او هغه بوډاګان دي چې په لاره پخپلو امساګانو کړوپ د سهار لمونځ ته روان وي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۷۲﴾

خلک پخپل فطرت پیدا کیږي
خو حکومتونه ترې هیوادوال جوړوي.

﴿۷۳﴾

د انسانانو سردار (صلی الله علیه وسلم) فرمایي:
«مسلمانان د نورو په خلاف یو لاس دي»
خو مونږ فقط د ځینو سره په خبرو مرسته کوو، لکه چې هغه (علیه السلام)
ویلي وي: «مسلمانان یوه خوله دي».

﴿۷۴﴾

د علماؤ غوښې زهر دي
خو دوی هم باید په دې باور ولري چې د مجاهدینو غوښې هم چوپان
کباب نه دي.

﴿۷۵﴾

ستونزه هغه وخت ده چې کله زړور ړوند وي
او حقیقت لیدونکی ډارن.

CamScanner

**﴿۷۶﴾**

ابراهیم (علیه السلام) د خپل زوی څخه حلالول وغوښتل، هغه ومنل
او نوح (علیه السلام) د خپل زوی څخه د ژوند غوښتنه وکړه، خو هغه
انکار وکړ.
ځینې په حیرانوونکې توګه منونکي او ځینې بې بیا په عجیبه توګه نافرمان
وي.

**﴿۷۷﴾**

ناپیلتوب په انسانانو کې دی
حیواناتو او جماداتو خو د حق او باطل په صف کې خپل ځای معلوم
کړی دی:
کربوړي د ابراهیم (علیه السلام) اور ته پوکې کولو
او «غرقد»[1] د یهودو ونه ده
او «أحد» داسې غر دی چې هغه مونږ سره مینه لري او مونږ د هغه سره.

**﴿۷۸﴾**

د تاریخ په اوږدو کې چې
کله غله واکمن شوي، امانتدار زندان ته تللي
فساد کوونکي چې واکمن شوي، اصلاح ګرایان زنداني شوي
او ناپوهه چې واکمن شوي، پوهان زندان ته تللي دي.

(۱) غرقد یوه ونه ده چې قیامت ته نږدې به تولې نیرې او ونې مسلمانانو ته وایي، راشه دغه دی زما شا ته یهودي پټ دی. د «غرقد» له ونې پرته.

## ﴿٧٩﴾

ای ربه رحم وکړې، د غم په دې نړۍ کې پر چا وژاړو:
رياض ډوبيږي، قدس يهودي کيږي
غزه مړه کيږي، مقديشو وږې کيږي
دمشق ذبحه کيږي، بغداد فريادونه کوي
او له طرابلس څخه وينې بهيږي[1].

## ﴿٨٠﴾

اسلام د قوت په اهميت پوهيږي خو هغه اصلاح کوي او لارښوونه ورته کوي
هم دې اسلام په وښو او اوبو له جګړه کوونکو عربانو څخه داسې قهرمانان جوړ کړل چې د دې لپاره جنګيدل تر څو دا ځمکه د الله تابع کړي.

## ﴿٨١﴾

اسلام په خپلو پيروانو دا لازمه کړې چې خلکو ته به د عقيدې په ښودلو کې نرمي کوي خو د اسلام څخه په دفاع کې به له سختۍ څخه کار اخلي.

---

(١) رياض د سعودی پلازمينه ده چې په بې دينی کې ډوبيږي، قدس د اشغالي فلسطين مرکز دی، غزه د فلسطين يواځينی ازاده برخه ده، مقديشو د صومالي پلازمينه ده، دمشق د سوريې پلازمينه ده چې الحمد لله اوس له زورواکی آزاده شوې، بغداد د عراق پلازمينه او طرابلس د ليبيا پلازمينه ده.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**﴿۸۱﴾**

اسلام د بخښنې او عفوې دین دی
خو د پياوړي د ښيګړې په توګه، نه د کمزورې د ذلت په توګه
کله چې په خلکو برلاسی شي نو ورته وايي: ځئ، تاسې آزاد یې
خو په جګړه کې ورته وايي: راځئ، تاسې دښمنان یې.

**﴿۸۲﴾**

په هغه سړي باور مه کوه چې د ځان په اړه خبرې کوي
او په هغه ښځه باور مه کوه چې د نورو ښځو په اړه خبرې کوي.

**﴿۸۳﴾**

په یوه ساحه کې ځان ورسوه
کنه نو د نورو سره په يو شانوالي ځان مه مشغولوه
ځکه څوک د يو شان خلکو تر منځ په توپیر پیدا کولو ځان نه مشغولوي.

**﴿۸۴﴾**

دوه شيان سړي ډېر مشغول ساتي، فکرونه او میرمنې
خو د فکر له امله مشغول شوي ته خلک لوی سړی وايي
او د ښځو له امله مشغول شوي ته خلک بې لارې وايي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۸۵﴾

وړه کښتۍ د بحر په اړه
له لوی بندر څخه ډېره پوهه لري.

﴿۸۶﴾

متکبر د ذلیل له امله،
زورواکی د ډارن له امله،
آقا د غلام له امله
او ظالم د چاپلوس له امله پیدا کیږي
او د دین په نوم د خلکو آزادیانې د هغه مولایانو په وسیله له منځه وړل کیږي چې دین یې خرڅ کړی وي.

﴿۸۷﴾

په کار وه چې ما خپل زړه غوښ کړی وی تر څو ته مې په ځان کې له خپریدو منع کړی وی
ما هغه وخت ستا د مخنیوي لپاره په خپله وړتیا باور وکړ، خو ناکام شوم او پایله یې دا شوه چې: زه ته وګرځیدم.

﴿۸۸﴾

د حق او باطل تر منځ جګړه په هره زمانه کې هم هغه جګړه ده خو لښکرونه یې بدلیږي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۸۹﴾

تماشه چیان داسې دي لکه هوايي میدانونه
نور د الوتکې پوړی ته رسوي
خو په خپله د الوتلو جرأت نه شي کولی.

﴿۹۰﴾

د سردارانو په خیر د چلند څخه د هغوی د مخنیوي لپاره لومړی ګام دا دی، چې د هغوی په مخکې د غلامانو په څیر له چلند څخه ډډه وشي.

﴿۹۱﴾

کوم امت چې د خپلو خوبونو تعبیر یواځې د ابن سیرین په کتاب کې لټوي
هغه ویده امت دی خو په ځان نه پوهیږي.

﴿۹۲﴾

د دې ځمکې پوهان ډېر بیچاره ګان دي
دوی فکر کوي چې په کائناتو کې تر ټول تېز شی رڼا ده
خو په دې نه پوهیږي چې دعا د ځمکې او اسمان فاصله د ثانیې څخه هم په کم وخت کې قطع کوي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۹۳﴾

داسې کله هم نه دي شوي چې مار دې د خپلو زهرو له امله مړ شوی وي، ځکه هغه يې په فطرت کې پراته دي
خو حسد خپل څښتن وژني، ځکه چې حسد د فطرت خلاف شی دی.

﴿۹۴﴾

که چيرې مونږ د حساب په کتابچه کې د فرښتو ليکنې ته هغه شان پاملرنه وکړو
څه رنګ چې يې د بانک د کارمند ليکنې ته کوو
نو په لاړو کې به فرښتو لاسونه را کړی وی
خو مونږ فقط يو بل ته په لاس ورکولو وياړ کوو.

﴿۹۵﴾

که غربت شخص وی
نو زمونږ په هيوادونو کې به يې تر ټولو ډېر شهرت درلود.

﴿۹۶﴾

د غل او سياست مدار تر منځ توپير دا دی چې
غل ستا څخه غلا کوي پرته له دې چې د قانون پروا وکړي
خو سياست مدار اول قانون جوړوي، بيا د قانون په رڼا کې ستا څخه غلا کوی.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۹۷﴾

﴿وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ فَبَصُرَتْ بِهِ عَنْ جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾(۱)
دې آيت په اسلام کې د استخباراتو د علم لنډيز وړاندې کړی دی:
شخص ته یوه قضيه مهمه ده، ځان پټ ساتلی شي او شک نه راپاروي.

﴿۹۸﴾

ډېری وختونه مونږ سره د مال کمی نه وي
بلکه د قناعت کمی راسره وي.

﴿۹۹﴾

په «غزه» کې مرگ تنگوونکی میلمه نه دی
بلکه د کورنۍ غړی گرځېدلی دی.

﴿۱۰۰﴾

پخوا به يهودو تورات لوستلو تر څو ځان ته پرې قناعت ورکړي چې دوی پر حق دي
خو نن ورته دا بس دی چې د «العربية» تلويزوني کانال وگوري.

(۱) «هغې يې خور ته وويل: څارنه يې کوه، هغې له ليرې څخه ولېد خو هغوی پرې پوهه نه شو». القصص:۱۱.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۰۱﴾

د خندا ډېر لاملونه دي
چې مهم يې د اوښکو وچېدل دي.

﴿۱۰۲﴾

کله چې تا ته څوک ووايي: حقيقت تريخ دی
نو باور وکړه چې هغه تا ته د خپل حقيقت په اړه خبره کوي
ځکه مونږ ته هيڅ حقيقت خوږ نه ښکاري پرته له هغې چې په نورو پورې اړه لري.

﴿۱۰۳﴾

پوهېږې چې باران څه رنګ راښکته کيږي؟
کله چې ته له کړکۍ راښکاره شې، نو وريځ بلې ته ووايي: «راځه چې اوبه وڅښو».

﴿۱۰۴﴾

باب دې په بيان د انسانانو تر منځ په توپيرونو کې:
هغه ته خپل رب امر وکړ چې زوی دې حلال کړه، سره له دې چې بل زوی يې نه درلود، خو هغه د رب خبره ومنله
او هغوی ته يې د غوا د حلالولو وويل خو انکار يې وکړ، سره له دې چې هغوی ډېرې غواوې درلودې.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۰۵﴾

مونږ هغوی په ډېرو خبرو تورنوو
خو دا مو هیر دي چې که مونږ د هغوی په چوپتیا پوهه شو نو ډیرې خبرې به ونه کړي.

## ﴿۱۰۶﴾

نبي (صلی الله علیه وسلم) تړونونه کول، د امن وعدې یې ورکولې غزاگانې یې کولې، بندیان یې تبادله کول، ټولنه او اقتصاد یې تنظیمولو بیا به یو څوک پیدا شي او پوښتنه به کوي چې د دین د سیاست سره څه اړیکه ده؟

## ﴿۱۰۷﴾

د چا چې دا فکر وي چې سهار مهال د فیروز[۱] له آواز پرته نه پیل کیږي نو هغوی دې یو وار ماهر المعیقلي تجربه کړي چې د سهار په لمانځه کې دا لولي: ﴿فَسُبْحَانَ اللهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ﴾.

## ﴿۱۰۸﴾

پوره عقل دا دی
چې ته عقیده ولرې دا نړی ټوله لیونی ده.

---

(۱) لبناني هنرمنده ده، چې سهارنی سندرې یې شهرت لري.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**﴿۱۰۹﴾**

مجرم: هغه څوک دی چې جګړه پیل کوي
بزدل: هغه څوک چې د ده پر ضد له پیل شوې جګړې څخه تښتي.

**﴿۱۱۰﴾**

زما هغه اولاد چې زه ورته د کنځلو له امله سزا ورکوم
کله چې لوی شي نو ما سره به څه کوی؟
دوی ته ښه معلومه ده چې ما به هره ورځ دوی ته کنځلې کولې او ورته به مې ویل:
د خلکو زده کړه وکړئ، خو دا مه هیره وئ چې تاسې عرب یې.

**﴿۱۱۱﴾**

اسلام یو نړیوال دین دی او ټول ملتونه، کلتورونه او تمدنونه په کې ځایدلی شي لري، تر دې چې امریکا هم په کې فتوا ورکوي
او مونږ ته ښائي چې جګړه کله جهاد دی او کله تروررزم.

**﴿۱۱۲﴾**

که چوپتیا حکمت وي
نو بیا خو مونږ پر مخ د ځمکه د حکماؤ ترټو لویه ډله یو
او که خاموشي سره زر وي نو بیا خو مونږ د سرو زرو په ستر معدن کې ژوند کوو.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۱۳﴾

امریکا د حق په هکله داسې ده لکه د زلزلې په هکله د ریيکټر اندازه څومره يې چې د کوم فکر سره دښمني زياتيږي، په هغه اندازه دغه فکر حق ته نږدې وي.

﴿۱۱۴﴾

ژبه د فکر څخه او فکر د ژبې څخه نه شي بې پروا کېدی
د دواړو تر منځ اړیکه داسې ده لکه د بدن او روح تر منځ اړیکه
روح د بدن پرته هسې خیال دی او بدن د روح پرته هسې تنه ده.

﴿۱۱۵﴾

په کوم وخت کې چې ابوجهل د اسلام پر ضد جګړه کوله
هم په هغه وخت کې ستر اسلام د جهل (ناپوهی) په خلاف جګړه کوله.

﴿۱۱۶﴾

مونږ د پایلو مسئولیت نه لرو
بلکه د هغه وسائلو مسئولیت لرو چې د دغه پایلو تر لاسه کولو لپاره يې کاروو
ځکه د قیامت په ورځ به ځینې پیغمبران راشي چې هیڅوک به ورسره نه وي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## {۱۱۷}

په خیمه کې خیرن بالښتونه خوب نه شي تښتولی
او په بنګلو کې پاک بالښتونه بې خوبي نه شي ختمولی
راز په پاک زړه کې دی، په پاک بالښت کې نه دی.

## {۱۱۸}

بې احساسه شخص شتون نه لري
خو داسې شخص شتون لري چې مونږ یې په احساس نه پوهیږو.

## {۱۱۹}

غواړم چې نقشونه سره تبادله کړو
زه به ستا هیواد شم او ته به زما اوسیدونکی شې.
بیا ما ته ووایه چې: کوم یو بل ډېر زورولی دی.

## {۱۲۰}

وایي چې: ټولې هګۍ په یوه ټوکرۍ کې مه ږده چې ماتې نه شي
زمونږ ستونزه یوه ورځ هم په هګیو کې نه ده
بلکه په دې زړه کې ده چې په یوه ټوکرۍ کې د کیښودو لپاره پیدا شوی.

## {۱۲۱}

چاپلوسي ښائسته درواغ دي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۲۲﴾

الله تعالی د حق مرسته تر یو وخته ځنډوي تر څو داسې يې پاک کړي
لکه اور چې سره زر پاکوي
او لومړی پړاؤ د باطل په برخه کوي چې بربنډ يې کړي
څکه خو باطل یوه معرکه گټي
او په پای کې جگړه د حق په گټه تمامیږي
باطل د یو ښار په نیولو خوشحالیږي څکه چې هغه د ځمکو غاصب دی
او حق د انسانیت په لټه کې دی.

## ﴿۱۲۳﴾

باطل اعلان وکړ، ډېر خلک ورته جمع شول
حق اعلان وکړ، غوره خلک ورته جمع شول
باطل د عدد او حق د نوعیت په لټه کې دی
باطل له بیروبار او حق د کمو لارویانو له امله شکایت لري.

## ﴿۱۲۴﴾

دومره مال ورسره و چې په میلیونونو ساعتونه يې پرې اخیستی شو
خو چې نیته يې پوره شوه د یوې دقیقې اخیستو توان يې نه درلود.

CS CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۲۵﴾

خلک د کمې پاملرنې له امله داسې وچیږي
لکه شینکي چې د اوبو د کمبود له امله وچیږي.

## ﴿۱۲۶﴾

که زه ورقه وی نو هیله به مې دا وی چې د قرآن کریم صفحه شم
که ټوټه (تیکه) وی نو هیله به مې دا وی چې د لمونځ جاینماز شم
او که لرگی وی نو هیله به مې دا وی چې د هغه بوډا امسا شم چې سهار
لمونځ ته یې په لاره لگوي.

## ﴿۱۲۷﴾

بې کاره سړی چې ځان مشهورول غواړي، ژبه اوږده کړي
او بې کاره ښځه چې ځان مشهورول غواړي، کالي لنډ کړي.

## ﴿۱۲۸﴾

د هیواد خاوره هم عجیبه ده
څومره مو چې په کې راکاږي، په هغه اندازه مو ورسره مینه زیاتیږي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۲۹﴾

عمر (رضي الله عنه) غوښتل چې د مهرونو اندازه وټاکي نو يوې ښځې ورته وويل:

دا کار روا نه دی ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا﴾[1]

نو وې ويل: ښځه په حق ده او عمر خطا شو

کله چې واکمن حق پرست وي، خولو بندوونکو ته اړتيا نشته.

## ﴿۱۳۰﴾

د عربي هيوادونو سازمان داسې دی لکه چونګښه

که آواز يې نه درلودی، څوک يې په شتون نه خبرېدل.

## ﴿۱۳۱﴾

هغه امريکا چې مونږ په تروريزم تورنوي

په وروستيو پنځه اويا (۷۵) کلونو کې يې له هغې څو چنده زيات انسانان وژلي

چې مسلمانانو د بدر څخه تر اوسه پورې په جګړو کې وژلي دي.

## ﴿۱۳۲﴾

کله چې نړۍ دوه قطبه وه نو امريکا مجاهدينو ته اسانتياوې برابرولې

کله چې امريکا يواځينی قطب شو نو په مخ کې يې له مجاهدينو پرته نور

(۱) «او تاسې يوې ته په دوی کې خزانه ورکړې وي». سورة النساء:۲۰.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



څوک ونه دریدل
د امریکا قطب نما د هغې مصلحت او زمونږ قطب نما زمونږ مصحف دی.

﴿۱۳۳﴾

د باطل پیروي مه کوه که څه هم راوړونکی یې ستا خوښخبري
او حق مه رد کوه، که څه هم راوړونکی یې ستا بد راځي.

﴿۱۳۴﴾

﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾(۱)
په دې سره مونږ معلومولی شو چې زمونږ لمونځ عبادت دی که سپورت.

﴿۱۳۵﴾

هغې ته داکتر وویل:
بې بې حاجی شکر مرض ته له منځه وړې یې او مونږ به ستا دوهم لاس هم زر غوڅ کړو،
هغې ورته وویل: کولی شو چې یوه اونۍ انتظار وکړو؟
زه غواړم چې دغه لاس طیارې ته د پورته کېدو پر مهال خپل زوی ته پورته کړم.

---

(۱) «لمونځ د بې حیائی او بدی څخه منع کوي». سورة العنکبوت:۴۵.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿١٣٦﴾

کله چې هغوی ته وايو مونږ لا تر اوسه ژوندي يو
نو له هغه ځايه خبر ورکوو چې نه پوهيږو ژوند زندان دی.

## ﴿١٣٧﴾

د علم پر مټ پلار نارينه زيږوي
او د ژوند پر مټ ترې مينډې سړي جوړوي.

## ﴿١٣٨﴾

کله فکر کوم چې هر څه چې بايد وويل شي، هغه ويل شوي دي
اوس چې مونږ څه وايو، فقط د ويل شوو بيا جوړښت دی.

## ﴿١٣٩﴾

مورې! اړتيا لرم پر تا ځان داسې وساتم لکه سرتيری چې ځان په ډال ساتي
زه تا ته داسې پناه يوسم لکه لنده مرغۍ چې د ديوال سوري ته پناه وړي
او تا داسې تنفس کړم لکه د نړيدلي تعمير څخه راوتی شخص چې تنفس اخلي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۴۰﴾

زه تاسې رښتيا بولم کله چې وايې: اسلام د ستونزو حل دی
خو ما هم رښتيا وبولئ کله چې زه وايم: هم دا تاسې ستونزه يې.

﴿۱۴۱﴾

زه د واکمنی په شهوت پوهيږم
خو په دې نه پوهيږم چې ولې دوی په خپل وصيت کې دا نه ليکي:
زما وروسته دوی خپل کار ته پريږدئ ځکه دوی د غلامۍ حق اداء کړی دی.

﴿۱۴۲﴾

گرانې! کله چې ته قهوه څښې
نو کوم يو مخکې وايې چې «آه»:
قهوه که پياله؟

﴿۱۴۳﴾

هغه مصر چې د يوسف (عليه السلام) په زمانه کې يې خپلو گاونډيانو ته خواړه ورکول
اوس ترې نړيوال بانک د خپلې مړی او دين غوښتنه کوي
زمونږ ستونزه د امکاناتو په کمبود کې نه ده بلکه د امکاناتو په ناوړه اداره کې ده.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۴۴﴾

موريې! زه اوس داسې يم چې په هغه اوبو غيرت راځي چې ته پرې اودس کوې
د لمانځه په هغه تيکه غيرت راځي چې تا ته نږدې ده
په هغه جاينماز غيرت راځي چې په سجده کې ستا تندی ښکلوي
او ستا په هغه تسپو غيرت راځي چې ته يې پخپلو گوتو اړوې راړوې.

﴿۱۴۵﴾

هغه خلک چې د زړه او عزت تر منځ د يو په اختيارولو کې زړه غوره کړي
داسې خلک دي چې د دې شرف حق نه لري چې مونږ ورته د عاشقانو نوم ورکړو.

﴿۱۴۶﴾

﴿توپيرونه﴾

د کوم موسی روزنه چې جبريل (عليه السلام) کړې وه، هغه د خوسي عبادت پيل کړ
خو د کوم موسی روزنه چې فرعون کړې وه، هغه پيغمبر شو
د نوح (عليه السلام) زوی د پيغمبر په کور کې کافر شو
خو د آزر زوی د پيغمبرانو پلار وگرځيد
د يوسف (عليه السلام) ورونو هغه په څاه کې واچولو
خو ماهي يونس (عليه السلام) ته په بحر کې نجات ورکړ

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د فرعون ښځې ته په جنت کې قصر جوړ شو
خو د لوط (علیه السلام) ښځه به په اور کې اوسیږي
هدهد (ملاچرگک) ناآشنا خلک الله ته راوبلل
خو فرعون خپل قوم اور ته روان کړ
ابلیس هغه وخت آسمان کې و چې الله تعالی دا فیصله کړې وه چې آدم (علیه السلام) به په ځمکه کې وي
خو آدم جنت ته لاړ او ابلیس اور ته داخل شو
مکې خپل بچی وشاړه
خو مدینې ورته ځای ورکړ
د خرما تنې د محمد (صلی الله علیه وسلم) لپاره فریادونه کول
خو تره یې ورته په لاره کې ازغي شیندل
انسان پیغمبر اور ته گوزار کړ
خو حیوانات یې د ژغورنې لپاره پورته شول
بې پلاره عیسی (علیه السلام) پیغمبر شو
خو ډیری بانډچیان د خپلو پلرونو په دین مړه شول چې د بتانو عبادت یې کولو
پیریانو په ډېره عاجزۍ قرآن واورېدو
خو د عکاظ بازاریانو خپلې گوتې په غوږونو کې ومنډلې
یوې میږۍ د پیغمبر د لښکر لاره بدله کړه
خو یو انسان خپل لښکر د کعبې د ورانولو لپاره رهبري کړ.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۴۷﴾

د خلکو ګناهونه د دعوتګرانو د سخت دريزۍ لامل نه شي جوړېدی
وروسته له هغې چې فرعون وويل: ﴿أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ﴾[1]
الله تعالی ورته پيغمبر ولېږلو چې هغه ته «نرمه وينا وکړي»
او د الله تعالی ښخه بل څوک زيات د هغه په دين غيرت کوونکی نشته.

﴿۱٤٨﴾

په سعودي کې د بنديانو په اړه د «العربية» تلويزون ځانګړی بحث داسی دی
لکه «شاکيرا»[2] چې د حجاب د فضيلت په اړه وينا کوي.

﴿۱٤٩﴾

له ګناه ښخه بدتر يو بل شی هم شته
په ګناه ټينګار کول
آدم (عليه السلام) او ابليس دواړو د رب نافرماني وکړه
خو لومړي بخښنه وغوښته او دوهم تکبر وکړ
آدم (عليه السلام) پيغمبر شو او ابليس ورټل شو.

(۱) «زه ستاسي لوړ خدای یم». سورة النازعات:٢٤.
(٢) «شاکيرا» د کولمبو يوه هنرمنده ده چې د بدن ډېره برخه يې لوڅه وي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۵۰﴾

د زرو کلونو په ترڅ کې چې بشریت کوم پرمختګ کړی هغه دا چې مخکې به د پوستکي د رنګ له امله خلک غلامانو او آزادو ته تقسیمېدل
او اوس د افکارو له امله دغه کار کېږي، له دې پرته نورې هسې خبرې دي.

## ﴿۱۵۱﴾

که د حلال او حرام تر منځ له دې پرته بل توپیر نه وي چې د حلالو وروسته خوند او د حرامو وروسته پښېمانتیا رامنځ ته کېږي نو دا هم د حلالو د ترلاسه کولو او د حرامو د پرېښودو لپاره بس ده.

## ﴿۱۵۲﴾

ځان ناګاره اچول د ناپوهه علاج دی.

## ﴿۱۵۳﴾

کله چې زه واورم چې دوی خپل عیبونه داسې بیانوي:
زما عیب دا دی چې پاک زړه لرم
زما عیب دا دی چې نرمي کوم
زما عیب دا دی چې سترګې پټوم
نو فکر وکړم چې زه یواځینی سړی یم چې د خپلو عیبونو په اړه له خبرو کولو څخه شرم راځي.

CS CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿١٥٤﴾

حج ته د تللو ځخه مخکې راته مور وویل:
خپل سامان ته ښه پاملرنه کوه
په مکه کې داسې غله دي چې له سترګو ځخه رانجه پټوي
خو په مکه کې یواځینی غل «ماهر المعیقلي» دي
چې له سینې ځخه زړه پټوي.

﴿١٥٥﴾

د سهار په لمانځه کې امام لولي چې:
﴿وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ﴾[1]،
نو یو ډېر بوډا سړی چې پخپلو پښو هم نه شي دریدلی وایي:
ای ربه! خپل هغه بنده ته بخښنه وکړه چې وروسته راغلی دی.
دې خلکو خپل زړونه له کومه راوړي دي؟

﴿١٥٦﴾

زندان هم عجیبه دی
یوسف (علیه السلام) ترې عزیز راووت
امام احمد بن حنبل ترې عالم راووت
ابن تیمیه ترې شیخ الاِسلام راووت
او سید قطب ترې شهید الاِسلام راووت.

---

(١) «ای ربه! تا ته په بیړه راغلم چې راضي شې». سورة طه:٦٤.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿١٥٧﴾

د سهار په لمانځه کې مونږ ته معلومېږي چې ځمکه له آسمان څخه ډېره لیرې نه ده
هغه څه چې مونږ ورته لېرې فاصله وایو، په یوه سجده ترې تېرېدی شو.

﴿١٥٨﴾

په امریکا کې ډېر جوماتونه او د روژه ماتې ډېر دسترخوانونه شته
او ته کولی شې چې قرآن کریم د نظر ماتې او حسد له منځه وړلو لپاره ولولې
خو د هغوی ستونزه د هغه اسلام سره ده چې د جومات او مصحف څخه ژوند ته وتل غواړي.

﴿١٥٩﴾

عراق یې د دیموکراسي د پیاده کولو لپاره اشغال کړ
خو په مصر کې یې د له منځه تللو تماشه کوي
د دوی دیموکراسي داسې ده لکه د خرماؤ څخه جوړ د عربو خدایان
عبادت یې کوي، خو چې وږي شي بیا یې خوري.

﴿١٦٠﴾

جهاد په څو ډوله دی
تر ټولو لاندې یې د حسان بن ثابت (رضي الله عنه) قصېدې
او تر ټولو لوړ یې د خالد بن ولید (رضي الله عنه) توره ده.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿١٦١﴾

زما څخه دا پوښتنه مه کوه چې هغوی ولې وختي ویده کېدل او مونږ ته خوب نه راځي

ملګریه! خوب ته سپین بالښتونه دوکه نه شي ورکولی

ملګریه! خوب یواځې په سپین زړه کې پړاؤ اچوي.

## ﴿١٦٢﴾

﴿فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ﴾[1]،

زړورتیا دا نه ده چې نه به ویرېږې، بلکه دا ده چې ویره پټه کړې.

## ﴿١٦٣﴾

ن د املائي نخښو نړیواله ورځ ده

په دې مناسب به زه عربي نړۍ په کرښه ولیکم

او وروسته به ترې د تعجب نخښه وکاروم.

## ﴿١٦٤﴾

ډېری هغه څوک چې ځان ته طالب العلمان وایي

باور لري چې که چېرې علم ته بشري شکل ورکړل شي، نو د دوی په شکل به وي

له ځان څخه به چېن راتاؤ کړي او لکه چې وایي: «اوس وخت راورسید چې ابوحنیفه خپلې پښې وغزوي».

(۱) «موسی بخپل زړه کې ویره پټه کړه». سورة طه:٦٧.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۶۵﴾

په ژبه ليکل شوي: په نړدې کې به د الله له ذکر څخه او په اوږد مهال کې به د خلکو د عزتونو په اړه له خبرو څخه وساتل شي.
او په زړه ليکل شوي:
په نږدې کې به د کوچنيانو څخه او په اوږد مهال کې به د بيکاره لويانو څخه وژغورل شي.

## ﴿۱۶۶﴾

کله چې زه د لغت قاموسونه لولم
نږدې وي قسم وخورم چې مونږ عجم يو.

## ﴿۱۶۷﴾

قاموسونه د دې لپاره دي چې ژبه له منځه لاړه نه شي
خو مونږ د قاموسونو څخه مقبرې جوړې کړې دي
هره خبره يې مونږ دفن کړې او له کارولو څخه مو غورزولې ده.

## ﴿۱۶۸﴾

د سړي صفت د قوت او امانت له امله کيږي
﴿إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ﴾[1].
او د ښځې صفت د د ښځيتوب او حياء له امله کيږي
﴿فَجَاءَتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاءٍ﴾[2].

---

(۱) «بيشکه هغه څوک چې ته يې اجير جوړوې، قوي او امانتدار دی». سورة القصص: ۲۶.
(۲) «راغله ده ته په دواړو کې يوه چې په حياء کې راروانه وه». سورة القصص: ۲۵.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴾۱۶۹﴿

څېړنه: سړي له ښځو څخه ډېر درواغ وايي خو ښځې په درواغو کې ډېرې نوښتګرې دي
مونږ په شمیر کې او تاسې په کیفیت کې

﴾۱۷۰﴿

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا﴾[۱]،
دا اسلام دی منځلاری د جسد او روح تر منځ
د ګوښه کېدو او بې بندوباره آزادۍ تر منځ
د عقل د بې ارزښته کولو او د عقل د عبادت تر منځ
د محسوسو شیانو او غیبي شیانو تر منځ!

﴾۱۷۱﴿

کله چې عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) شفاء بنت عبدالله په بازار کې شارواله کړه
نو په اروپايي کليسا کې مذهبي مشران دې پايلې ته ورسيدل چې ښځه انسان دی خو شیطانی روح په کې اوسیږي.

(۱) «په دغه توګه مونږ تاسې منځلارى (غوره) امت ګرځولي يې». سورة البقرة:۱۴۳.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۷۲﴾

څوارلس سوه (۱۴۰۰) کلونه وروسته د ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾[1] د نازلیدو څخه

فرویډ [2] راغی چې وایي:

«ښځه د سړي د شوق د پوره کولو پرته د هیڅ کار نه ده».

## ﴿۱۷۳﴾

هغه وخت چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي و: «ښځې د سړو برخه ده».

په مدینه کې به یهودو په خپل بدل شوي تورات کې لوستل چې:

«ثنا ده تا لره ای ربه! چې زه دې ښځه نه یم پیدا کړې».

## ﴿۱۷٤﴾

ځان او تاسې ته نصیحت کوم چې اندونیزیا ته سفر مه کوئ

ځکه دغه هیواد مسلمانو سوداګرو پخپلو اخلاقو او معاملاتو فتحه کړې

و

او نه غواړو چې نوي هیوادونه له لاسه ورکړو.

---

(۱) ژباړه: «او د دوی سره به سمه توګه ژوند وکړئ». سورة النسآء:۱۹.

(۲) Sigmund Freud یو یهودي الأصله اتریشی طبیب، روانشناس او فلسفي شخصیت و، خپل نظریات لري.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۷۵﴾

امام ابن تیمیه (رحمه الله) خپله فتاوی په زندان کې ولیکله
هغه وفات شو خو کتاب یې ژوندی دی
سید قطب (رحمه الله) «في ظلال القرآن» په زندان کې ولیکلو
دی هلته په دار وځړول وشو، خو کتاب یې ډېر دارونه راوځړول.

﴿۱۷۶﴾

د ویاړ ځای دا دی چې مونږ د زندانونو په ادبیاتو کې تر ټولو امتونو څخه زیاته ونډه لرو
خو شرم دا دی چې مونږ یواځینی امت یو چې دولتي جریدو ته یې «د تشنابونو ادبیات» نوم ورکول کیدی شي.

﴿۱۷۷﴾

هغه څوک چې د پیغمبر په کور کې پالل شوی و، په طوفان کې غرق شو
او هغه چې د فرعون په کور کې پالل شوی و، بحر یې پخپله امسا وچولو
مهمه دا نه ده چې چېرې ژوند کوې، بلکه دا چې څه رنګ ژوند کوې
مهم پیل نه دی، بلکه پای ده.

﴿۱۷۸﴾

د ریاء څخه ډېره ویره کول هم ریاء ده.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۷۹﴾

ډیری هغه خلک چې داسې څه نه لري چې د هغې لپاره مرگ قبول کړي
داسې څه هم نه لري، چې د هغې لپاره ژوند وکړي.

﴿۱۸۰﴾

په هغه چا پورې خان مه تړه چې غواړي ته یې تر شا منډې ووهې
او نه په هغه چا پورې چې ستا تر شا منډې ووهي
بلکه په هغه چا پورې ځان وتړه چې ته پوهیږي، ته او هغه یوځای حرکت
کوئ.

﴿۱۸۱﴾

اصلي مړه هغه څوک نه دي چې د خاورو لاندې شوي دي
بلکه هغه څوک دي چې هیر شوي دي.

﴿۱۸۲﴾

مناظره چیانو ته غوږ مه نیسه، بلکه تجربه لرونکو ته غوږ کیږده
ځکه چې له بحر څخه په نقشه کې تېرېدل د کښتۍ څخه په تېرېدو کې
ډېر آسانه وي.

﴿۱۸۳﴾

په جغرافیا کې د اسلام برخه
د مسلمانانو په زړونو کې د قرآن د برخې سره برابره ده.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۸٤﴾

په تشويش کې تر ټولو بده دا ده چې
مونږ په دې پوهه شو چې د چا لپاره مونږ تشويش کوو، هغه وخته ويده شوي.

## ﴿۱۸۵﴾

ځينې فکر کوي چې د غل لاس پريکول
شراب خور په درو وهل او زناکار په تيږو ويشتل شريعت دی
دا په شريعت کې د سزاګانو نظام دی
شريعت د دې لپاره راغلی دی چې د لاسونو، شاګانو او روحونو ساتنه وکړي.

## ﴿۱۸٦﴾

په شريعت کې اخيري تطبيق کيدونکی شی حدود دي
او لومړی ځنډيدونکی شی هم حدود دي
څکه خو عمر فاروق (رضي الله عنه) د رماده[1] په کال د غل لاس پريکول وځنډول
اسلام لومړی د حرامو اسباب له منځه وړي، بيا يې ترسره کوونکي ته سزا ورکوي.

(۱) په ۱۸ هجري کال د عمر (رضي الله عنه) د خلافت په زمانه کې په مدينه منوره او شا او خوا سيمو کې د قحطی کال.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۸۷﴾

په صفت کې تر ټولو غوره وینا: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾[۱]،
او په وعده کې تر ټولو غوره وینا: ﴿وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ﴾[۲]
او د عقل د پوخوالي په اړه تر ټولو غوره وینا: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ﴾[۳].

## ﴿۱۸۸﴾

د هغو خلکو شمیر چې کوند ذهنه پیدا شوي
د هغوی څخه ډېر کم دی چې پخپلو لاسونو یې له ځان څخه کوند ذهنه جوړ کړي دي.

## ﴿۱۸۹﴾

ویل کیږي چې په موبائل تلیفون کې تر ټول ښه خبره دا ده
چې کله نور خلک هر وخت وغواړي، تا پیدا کولی شي
په حقیقت کې هم دا په کې تر ټولو بده خبره ده.

## ﴿۱۹۰﴾

اجتهاد دا نه دی چې مونږ په اسلام کې هغه څه اضافه کړو چې د دې وخت غوښتنه وي
بلکه دا دی چې مونږ په اسلام کې هغه څه ولټوو چې په دې زمانه کې یې اضافه کول ممکن وي.

---

(۱) «بیشکه ته د لوړو اخلاقو څښتن یې». سورة القلم:۴.

(۲) «او زر دی چې تا ته به ستا رب داسې څه درکړي چې ته به پرې خوشحاله شې». سورة الضحی:۵.

(۳) «او هغه له خپل خواهش څخه خبرې نه کوي». سورة النجم:۳.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۹۱﴾

که ستا په توان کې نه وي چې د چا لپاره ښائسته واقعیت جوړ شې
نو ناوړه یاداشت ورته مه جوړېږه.

﴿۱۹۲﴾

هغه ذات چې اسمان یې لېرې جوړ کړی
دروازه یې ورته په ځمکه کې جوړه کړې او کلیانې یې په تندو کې ایښودې
سجده وکړئ او ورڅخه وغواړئ.

﴿۱۹۳﴾

که غواړې چې د یو چا اصول معلوم کړې
نو هغه څه ته یې مه ګوره چې د ځان لپاره یې غواړي، بلکه هغه څه ته یې وګوره چې د نورو لپاره یې غوښتنه کوي.

﴿۱۹۴﴾

په مصلحتونو کې: ډېر رنګونه وي
په اصولو کې: یواځې تور او سپین وي
له دې امله عیب دا نه دی چې اصولي شخص ته کلاسیکي (زوړپالی) وویل شي
عیب دا دی چې مصلحت پرست ته «رنګ بدلوونکی» وویل شي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۱۹۵﴾

هر ښائسته څرگندېدونکی کار، ښائسته نه وي
هغه انځور اخيستونکی چې له تا څخه مسکا غواړي
هغه ستا مسکا ته تشويش نه لري
هغه ته يواځې انځور اهميت لري.

## ﴿۱۹۶﴾

زما په باور فيفا[1] زمونږ له اخترونو څخه د تلو او راتلو د سيالی فکر ترلاسه کړی
لومړی ورځ يې ليدنه، ليدنه او ليدنه وي
او دوهمه ورځ يې استقبال، استقبال او استقبال وي.

## ﴿۱۹۷﴾

کله مونږ خپل عمرونه د داسې «هو» لپاره په قيمت کې ورکوو
چې هلته «نه» ويل په کار و.

## ﴿۱۹۸﴾

کله چې د سفر څخه راستون شو نو ما ته يې هلته د انسان د ارزښت په اړه وويل
دا کار د پخوا په څير ډاډ ورکوونکی نه و
کله چې ته يو شل انسان ته د چکر د خوند په اړه معلومات ورکوې
نو ته ډاډ نه ورکوې، بلکه د هغه د تکليف يادونه ورته کوې.

---

(۱) فيفا (FIFA) د فوټبال د نړيوالو لوبو فيدراسيون.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۱۹۹﴾

«کلکم راع» معنا دا ده چې ته مسئول یې، جلاد نه یې.

﴿۲۰۰﴾

په رمضان کې د خلکو اخلاقو او چلند ته وګوره
پوهه به شې، چې ځینو د روژې مفهوم
او د غذایي ریجیم مفهوم سره ګډوډ کړی دی.

﴿۲۰۱﴾

﴿فَنَادَاهَا مِنْ تَحْتِهَا أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا، وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا﴾[1].

مونږ یو زړه سواندې لاس ته د ډوډۍ ښخه ډېره اړتیا لرو، ځکه مونږ زړه یو، معده نه یو.

﴿۲۰۲﴾

اسلامي ډلې په واک کې ناکامېږي
ځکه چې دوی په لوبه کې هغه څه مني چې لوی لوبغاړي یې ورته اجازه ورکوي
سره له دې چې اسلام د دې لپاره راغلی چې د لوبې قوانین بدل کړي.

---

(۱) «هغې ته یې له لاندې خوا آواز وکړ چې مه خفه کېږه، ستا رب ستا لاندې چینه روانه کړې ده، د خرما تنه وخوزوه، تا ته به تازه خرما راغورزېږي». سورت مریم:۲۴-۲۵.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۲۰۳﴾

دوی مونږ په میانمار، مالي، کشمیر، چیچنیا،
افغانستان، فلسطین، سوریا او عراق کې د اسلام له امله وژني
ډېره خواشینوونکې ده چې دښمن مونږ سره د یو امت په څیر چلند کوي
او مونږ د یو بل سره د ملتونو په څیر چلند کوو.

## ﴿۲۰۴﴾

موسی څومره بختور یې:
﴿وَأَنَا اخْتَرْتُكَ﴾، «او ما ته غوره کړې»
﴿وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي﴾، «او وامې چولو پر تا محبت له خپل اړخه»
﴿وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي﴾، «او جوړ مې کړې ته د خپلو سترګو وړاندې»
﴿وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي﴾، «او جوړ مې کړې د خپل ځان لپاره».

## ﴿۲۰۵﴾

په سوریه کې د نظام د اردو سرتیري خپل ژوند د یو شخص لپاره قربانوي
خو ملت خپل ژوند د یو فکر لپاره قربانوي[1].
هم دا د آزادو او غلامانو تر منځ توپیر دی.

---

(۱) د ۲۰۲۴ کال د دیسمبر د میاشتې په اتمه نېټه د شپږو لسیزو وروسته د اسدي کورنی واکمني ختمه او بشار الأسد روسیې ته وتښتیده او اردو ړنګه شوه.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۰۶﴾

مورې زه ستا سره یوځای د پیشنمي کولو شوق لرم او ستا سره د پخوا په خیر د مینې خبرې کوم:
«ما ته په خپل لاس ډوډی توزیع کړه، ډوډی هم حق لري چې پیشنمی وکړي»
مور به مې وخندل او وبه یې ویل: پیشنمی وکړه ای کم ادبه پیشنمی وکړه.

﴿۲۰۷﴾

کله چې یو کار پیل کوې، نو د پای ته رسولو چل یې هم زده کړه
ښکته کېدل لومړی درس وي چې پیلوټان یې زده کوي.

﴿۲۰۸﴾

د انقلاب ښځه ناوړه شی نشته
کله چې ترې د وسیلې ښځه زیاته موخه جوړه شي.

﴿۲۰۹﴾

ما ته د رښتیاؤ په اړه خبرې مه کوه، فقط درواغ راته مه وایه
ما ته د وفاء په اړه خبرې مه کوه، فقط چل راسره مه کوه
ما ته د غیبت په اړه خبرې مه کوه، بلکه خپله ژبه بنده کړه
او ما ته د جنت د لارې په اړه خبرې مه کوه، زما مخکې روان شه.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**﴿۲۱۰﴾**

ځوک چې د بې وطنۍ د تریخوالي په اړه خبرې کوي
غالبه دا ده چې دوی وطن نه دی تجربه کړی.

**﴿۲۱۱﴾**

ځینو خپل الارم د سهار لمونځ لپاره برابر کړی وي
او ځینو د وظیفې لپاره
هم دا توپیر دی د هغه چا تر منځ چې پوهیږي د عبادت لپاره پیدا شوی
او د هغه چا تر منځ چې دا باور لري چې د کروندې لپاره پیدا شوی دی.

**﴿۲۱۲﴾**

تر ټولو ښه سوداګر هغه دی چې پخپل مال د دین لپاره تجارت کوي
او تر ټولو ناوړه سوداګر هغه دی چې پخپل دین د مال لپاره تجارت کوي.

**﴿۲۱۳﴾**

غواړم هغه هیوادونو ته لاړ شم چې مخکې مې نه دي لیدلي
او هر ځوک چې زما په خوا تېرېږي غاړه ورکړم او ورته ووایم:
ستاسې څخه مننه ای ناآشنا خلکو، ځکه زه تاسې لکه د خپلو دوستانو یواځې پرېښودم.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۲۱٤﴾

جنت هغه ګټه ده چې ټول پخوانی تاوانونه له منځه وړي
او جهنم هغه تاوان دی چې ټولې پخوانۍ لاسته راوړنې ختموي.

## ﴿۲۱۵﴾

دوی به مونږ ته ویل چې انسان ټولنیز حیوان دی
تر دې چې له ټولې ځمکې ځخه ځنګل جوړ شو.

## ﴿۲۱٦﴾

ستا زړه دا کولی شي چې د تیرې سره په سختوالي کې سیالي وکړي
او دا هم کولی شي چې د وریښمو سره په نرم والي کې سیالي وکړي
دا اوس په تا پورې اړه لري چې کومې سیالی ته وردانګې!

## ﴿۲۱۷﴾

تر څو چې ته د هغوی د ګوزارونو لاندې فریاد ونه کړې، هغوی د بریالیتوب خوند نه شي ځکلی
تا کومه ورځ اوریدلي چې ونې د تبر د ګوزارونو لاندې ویلي وي: «آه».

## ﴿۲۱۸﴾

هغه سخت امرونه چې د خندا کوونکي له خولې ځخه ووځي
د هغه آسانو امرونو ځخه آسان وي چې د تریو تندي والا شخص له خولې ځخه ووځي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۲۱۹﴾

د مظلوم له ياداشت څخه قوي نه پيدا کيږي
او د ظالم له ياداشت څخه کمزوری نه پيدا کيږي.

## ﴿۲۲۰﴾

که هر څومره لوی شي بيا هم کوچنی يې تر څو چې مور ته اړتيا لري
او نور خلک درته د کمالياتو په درجه کې وي.

## ﴿۲۲۱﴾

د تاريخ په اوږدو کې چې انسان څومره وسلې کارولي دي
په ټولو کې ژبه ډېره تخريبوونکې وسله ده
څوک چې له توپونو خطا شوي، ژبو په نخښه کړي دي.

## ﴿۲۲۲﴾

سهار پخير
دا بغداد دی، که ابو جعفر منصور[1] پوهه شي چې
نوري المالکی[2] به د ده په جوړ شوي ښار واکمني کوي.

---

(۱) د عباسي سلطنت دوهم واکمن او ددغه واکمنی حقيقي مؤسس، د چا د واکمنی مرکز چې په عراق کې د بغداد ښار و، نوموړي په کال ۱۳۶ هجري کې واکمني تر لاسه او د دويشت کلونو واکمنی وروسته په ۱۵۸ هجري کال کې وفات شو.

(۲) د امريکايانو د اشغال په وخت کې د عراق شيعه صدر اعظم ۲۰۰۶ څخه تر ۲۰۱۴ پورې.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۲۲۳﴾

د هغه ګرځنده تلیفون سره حسد لرم چې د ساحې څخه بهر وي او نور تلیفونونه ورته مزاحمت نه شي جوړولی.

## ﴿۲۲۴﴾

په حمص[1] کې ترې پوښتنه وشوه:
مونږ ته لومړی حمله کوونکی او وروستی وتونکی بیا نه مونډې؟
وې ویل: زه د خپل پلار په وصیت عمل کوم:
که توان دې وي چې یواځې یو وار مړ شې، نو دا کار وکړه.
تاسې ژوند وکړئ او هره ورځ زر ځله مړه شئ.

## ﴿۲۲۵﴾

زن د هغه بې سواده ښځې په قبر ودریدم چې یوه ورځ یې راته وویل:
د ښځو اوښکې ناوې[2] دي او زړونه یې محرابونه دي
ګوره چې د ښځو اوښکې رښتیا او زړونه یې دروغ ونه ګڼې.

## ﴿۲۲٦﴾

څوک چې په نږدېکت کې ماهر وي، په پرېښودو کې هم ماهر وي
نو ځان د هغوی د نږدیکت لائق کړه، چې د پرېښودو مستحق یې نه شې.

---

(۱) «حمص» د شام اوسنی سوریې یو ولایت دی او مشهور شار دی.

(۲) ناوه، هغه لرګین یا بلاستیکي پایپ دی چې له چتونو څخه پرې د باران اوبه بهیږي، کېدی شي په نوور لهجو کې ورته بل نوم وکارول شي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



### ﴿۲۲۷﴾

د آدم (علیه السلام) خطا د حرامې ونې څخه خوراک کول و
او د ابلیس خطا حسد او کبر و
د غرور گناه په غالب ډول د راگرځېدو لار لري
خو ستونزه د زړه په گناهونو کې ده.

### ﴿۲۲۸﴾

فکر کوم چې زه د بیروت[1] په څیر یم
زه د اصولو په اړه لیکنې کوم خو دغه اصول نه عملي کوم
او هغه د ټولې نړۍ لپاره کتابونه چاپوي، خو پخپله یې نه لولي.

### ﴿۲۲۹﴾

لوی شوم او یواځې له سرک څخه تیریدی شم
خو د هغه ډاډ خوند مې ورک کړی دی چې په تېرېدو کې به ما ستا د
کالیو د یوې څنډې په نیولو کې محسوسولو
مورې: تا څه رنګ زه ستا د کالو په یوه څنډه د خپلو پښو څخه ډیر باوری
کړی وم؟.

### ﴿۲۳۰﴾

له خپل سیوري څخه کرکه لرم ځکه چې کله راتیتیږي.

---

(۱) د لبنان هیواد پلازمینه چې کتابونه په کې په ښه کیفیت چاپ کیږي.

CamScanner

## ﴿۲۳۱﴾

مونږ په یو شي کې هم منځلاریتوب نه پېژنو

د مور په ورخ ځینې تا ته داسې ښائي لکه چې اوس یې مور موندلې وي او ځینې نور درته داسې ښائي چې باید د کافرو په مخالفت کې دې مور ووهې.

## ﴿۲۳۲﴾

هغه امت چې د خپلې جغرافیا ساتنه نه شي کولی، د تاریخ ذلت به له ستوني تیروي

د ذلت خبره ده چې مونږ به دا یادوو چې اوباما [1] په هغه ځای کې ودرېد او وینا یې وکړه په کوم ځای کې چې یوه ورځ عمر بن الخطاب درېدلی و.

## ﴿۲۳۳﴾

عباس بن فرناس [2] د الوتلو هڅه نه کوله

بلکه د دې ویلو هڅه یې کوله چې: دا نړۍ څومره تنګه شوې ده خو دا خبره یې د وزرو په ژبه وکړه.

---

(۱) د امریکا د متحده ایالاتو پخوانی لومړی تورپوستی جمهور رئیس.

(۲) لومړی شخص چې د الوتلو هڅه یې وکړه. هغه د ځان لپاره وزرې جوړې کړې او له لوړ ځای څخه یې ځان راخطا کړ، چې په پایله کې نوموړی ومړ، دا د یو انسان د الوتنو لومړی هڅه وه.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۳۴﴾

ای الله! اسمان څومره لېرې او ته څومره نږدې يې.

﴿۲۳۵﴾

هغه غله چې پوره ملت غلا کوي
په خپلو کورنو کې د هغه غلو له ويرې د خبرداری وسائل نصبوي
چې يوه مړی غلا کوي.

﴿۲۳۶﴾

د نه شتون دروازه کله هم نجار نه ده جوړه کړې
بلکه هغه محبوب جوړه کړې چې په زړه کې يې راته ميخ ووهلو او لاړ.

﴿۲۳۷﴾

ښوونکيه ملګريه! تر څو چې ضمير دې راحت شي
نو په دې باور ولره چې د درس پوهاوی کفايي فرض دی
که څينو شاګردانو ياد کړ، نور معاف دي.

﴿۲۳۸﴾

خلک د ژوند د يوې مړی لپاره راوينښ شوي
ای هغه څوکه چې مونږ يې ښکاره نافرماني کړې او مونږ يې کله هم له
مړی څخه نه يو محروم کړي، زمونږ لپاره يې په ژوند کې پوره کړه.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۳۹﴾

که مونږ چیرې خبرې وی
نو تر ټولو هغه لویه جمله به وی چې اعرابي محل نه لري.

﴿۲٤٠﴾

پریږده ملګریه، زمونږه بې خوبي د قهوې له امله نه ده
هغه رزیلان چې وخته ویده شوي، هغوی هم زمونږ په څیر قهوه څښلې
زمونږ بې خوبې په قهوه کې نه ده، بلکه د زړه په کافینو کې ده ملګریه.

﴿۲٤۱﴾

ما خپلې لور فاطمې ته د نوح (علیه السلام) قصه وکړه
بیا مې ترې پوښتنه وکړه چې مونږ له دې قصې څخه کوم درس اخلو؟
د کوچنیوالي ساده ځواب یې راکړ:
د حیواناتو ملګرتوب، د کافرو له ملګرتوب څخه غوره دی.

﴿۲٤۲﴾

په ورقه (پاڼه) کې مینه ده
کله به هم ډیجیټلي (رقمي) ادبیات په ورقي ادبیاتو برلاسی نه شي
مګر هغه وخت چې کله مونږ یو ډیجیټلي کتاب ولولو او خوښ مو شي
او بیا دا پوښتنه ونه کړو چې ورقي کتاب به څه رنګ ترلاسه کړو.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۲۴۳﴾

خنساء (رضي الله عنها) په صخر[۱] ډېره زمانه وژړل
څکه د جاهلیت په زمانه کې په مرگ کې د مرگ پرته نور څه نه پیدا کېدل.
کله یې چې د قادسیې په جگړه کې څلور زامن شهیدان شول نو د شکر سجده یې وکړه
څکه چې په اسلام کې مرگ په ژوند بدلیږي.

## ﴿۲۴۴﴾

اسرائیلو شیخ احمد یاسین (رحمه الله)[۲] د جومات په دروازه کې شهید کړ
دغه شل انسان کله هم د سهار لمونځ نه پرېښوده
خو مونږ ترې خپلو گناهونو منع کړي یو
حقیقي شلوالی د زړه شلوالی دی.

## ﴿۲۴۵﴾

د نورو خندول ښه شی دی
خو په دې شرط چې ته پخپله د خندا وړ نه شې.

---

(۱) صخر د خنسآء (رضي الله عنها) ورور و، چې د جاهلیت په زمانه کې مړ شوی و.

(۲) د فلسطین د اسلامي مقاومت غورځنگ (حماس) بنسټگر چې په ۲۰۰۴ میلادي کال کې د سهار د لمونځ څخه د راوتلو په وخت کې اشغالگرو په غزه کې په شهادت ورسولو.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



«۲۴۶»

حقيقت: د انسان طبيعت له هغه چاپېرېال څخه اغيزمن کيږي چې په کې اوسيږي

په دې حقيقت پورې يو بل حقيقت اړيکه لري:

يواځينې شی چې دا سياره (ځمکه) بې ترسره کوي هغه يوځای کېدل او څرخيدل دي.

«۲۴۷»

هغه کوچنيان چې خط کشونه يې ښوونکو ته د خپلو وهلو لپاره ورکول هغوی لوی شول او گټور هيوادوال وگرځيدل

د هغه چا معاش ورکوي چې د دوی بندخونې ساتي

او د هغه مرمی قيمت ورکوي چې دوی پرې وژل کيږي.

«۲۴۸»

که ته د خپلو هيلو له امله بدبخته يې

نو دا درته له دې ډېره غوره ده چې له هيلو پرته بدبخته يې.

«۲۴۹»

«ځيرنه»

څومره چې د ښځې هوښيارتيا ډېرېږي د اولاد راوړلو فرصت يې کميږي

زما مور د دغه څيړنې په هکله ووېل:

رښتيا هم سمه خبره ده، که زه هوښياره وی، نو ستاسو په څېر لس اولادونه به مې نه زيږول.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۲۵۰﴾

«أحد داسې غر دی چې مونږ سره مینه لري او مونږ هم ورسره مینه لرو»
د هغه تیږې دې سهار پخیر وي چې ستا د قدمونو لاندې عاشقه شوه!

## ﴿۲۵۱﴾

هغه څوک دې خوار شي چې وايي: «څوک چې خه نه لري، بل ته يې نه شي ورکولی»
زما پلار بې سواده و چې د تیږو ویستلو په ساحه کې یې کار کولو
تیږې یې زمونږ د ډوډۍ لپاره نه کیندلې، بلکه د قلم لپاره یې کیندلې.

## ﴿۲۵۲﴾

کله چې زه له دوی ځخه د ښځو د حقوقو خبرې اورم نو حیرانیږم
آیا په دې ځمکه کې ستا پرته بله ښځه هم شته؟

## ﴿۲۵۳﴾

په امریکا کې دولس سوه (۱۲۰۰) جوماتونه دي
ځکه چې اسلام د امریکا د اصولو موافق:
ښه شه خو د الله د واکمنۍ غوښتنه مه کوه
لمونځ کوه، روژه نیسه، حج کوه او امریکا ته جزیه (ټکس) ورکوه.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۵٤﴾

ډاکتر ته د ورتللو مخکې ورته نرس فورمه ډکوله
پوښته يې ترې وکړه: له څه شي شکايت لرې؟
ځواب يې ورکړ: د بې خوبۍ څخه شکايت لرم
پوښته يې ترې وکړه: څه کار کوې؟
ځواب يې ورکړ: بالښتونه خرڅوم

﴿۲۵۵﴾

زما په غوښتنه زه هيله لرم چې د هيوادوال په توګه د وظيفې څخه استعفا ورکړم
زه د هيواد په نوم په دې خصوصي شرکت کې له کار څخه ستړی شوی يم
زه غواړم په آزاد کاروبار کې خپل قسمت تجربه کړم.

﴿۲۵٦﴾

سره له دې چې سپي په وفادارۍ کې شهرت لري
خو هر سپی خپل زخم په خپله څټي
او په دغه کار کې په بل سپي باور نه کوي
دوی ته چا ويلي دي چې زخمونه د هر چا خپل دي!

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۵۷﴾

په دې پیاله کې قهوه مه څښه، دا زمونږ سره ډېره پخوانی ده
او پخوانی پیالې لکه د پخوانیو خلکو
چې ډېره بوره ورته تاوان لري!

﴿۲۵۸﴾

پر مونږ د الله پرده ده چې سیورې مو د قد مطابق دي، نه د زړه
که نه سیوري به زمونږ وروسته په خاپوړو راروان وی.

﴿۲۵۹﴾

د دنیا ټول قوانین په دې اتفاق لري چې «قانون د بې پروا خلکو ساتنه نه کوي»
یواځې اسلام دی چې د ټولو ساتنه کوي
تر دې چې څوک ډېر بنه کوي، هغوی ته هم مونږ بې پروا وایو.

﴿۲٦۰﴾

څوک د ډېرو هیلو له امله نه دی مړ شوی
مګر هغوی چې هیلې یې ختمې شوي، نو هغوی «ژوندي» مړه شوي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۲۶۱﴾

چونګښې چې د لمر لاندې راجمع شي، ټوله ساحه له شور ځخه ډکه کړي
او مېږی د شونډو د خوړولو پرته د يو کال توښه جمع کوي
لاس شه، ستونی مه جوړېږه.

## ﴿۲۶۲﴾

د کسبګرو د فضيلت په اړه:
سخت لاس او نرم زړه د نرم لاس او سخت زړه څخه ډېر غوره دی.
د ستونزمنو د فضيلت په اړه:
هغه دوه پرېکړل شوي پښې چې عبادت ته دې کينوي
د هغه روغو پښو څخه غوره دي چې جهنم ته دې بوځي.

## ﴿۲۶۳﴾

هغې په رخصتولو کې ورته وويل: زه خو به ستا وروسته مړه شم.
او هغه ورته په رخصتولو کې وويل: زه ستا وروسته هيڅ ښځه نه کوم
هغه تر دې ژوندی وه چې بيګاه يې لمسی وشو
او هغه بيګاه مړ شو او درې ميرمنو ته يې په ميراث کې برخه پاتې شوه.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**﴿۲٦٤﴾**

ماشومان منډې پخپله يادوي
خو د کورنۍ روزنه هغه څه دي چې له دوی څخه جاري صدقه، يا جاري گناه جوړوي.

**﴿۲٦٥﴾**

دوه شيان دي چې قهر يې خوشحالي او خوشحالي يې قهر دی:
امريکا او «العربيه» تلويزون.

**﴿۲٦٦﴾**

ته پوهېږې چې مونږ په نړۍ کې تر ټولو لوی مصرفي بازار يو
او زمونږ په نظر تر ټولو کم ارزښته توکی انسان دی!

**﴿۲٦۷﴾**

په ټولو هغه امتونو کې چې الله تعالی پرې عذاب راوستی، شريکه خبره گناه ده
خو يهودو د گناه سره يو بل د بې عقلۍ لامل هم اضافه کړی
او هغه دا چې دوی د رخصت په ورځ هم کار ته تلل.

**﴿۲٦۸﴾**

زه به ستا لپاره لاره شم، خو په دې شرط چې ته به پيزار نه جوړېږې.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۶۹﴾

کله چې مې درته وویل د خوب قیمت د آرام زړه یو څو د شمار پیسې دي
نو دا پوښتنه به راڅخه نه کوې: چې دغه قیمت لوړ دی که ټیټ؟
څکه هر جنس چې په لاس کې نه وي، د هغې قیمت لوړ وي.

﴿۲۷۰﴾

د روانشناسانو خبره رښتیا مه ګڼه
یواځېتوب دومره خطرناک مرض نه دی لکه چې دوی یې دعوه کوي
دغه دی ستا مریض یم او نه غواړم چې له تا روغ شم ای زه!

﴿۲۷۱﴾

هغه دین چې لومړی امر یې **(اقرأ)** «ولوله» دی
دا شوني نه ده چې هغه دې د علم سره په ټکر کې وي
او هغه کتاب چې اخیرې حکم یې **(واتقوا)** «ځانونه وژغورئ» دی
شونې نه ده چې هغه دې د وژنو دین وي.

﴿۲۷۲﴾

ما ته یې وویل: د هغه ساده عاشقانو تصدیق مه کوه چې وایي: هیرول سخت دي
هیرول له هغه څه ډېر آسان دي چې ته یې فکر کوې
زه پخپله هغه میرمن چې مینه مې ورسره لرله، په ورځ کې سل ځله هیروم.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



### ﴿۲۷۳﴾

ما ته شرم راځي چې د کومې میرمن سره مینه لرم، هغې ته د سرو ګلانو ګېډۍ ډالۍ کړم
په داسې نړۍ کې چې ملیونونه انسان په کې یوه ډوډۍ نه شي ترلاسه کولی.

### ﴿۲۷٤﴾

ما ته شریعت دا ښودلي چې له قرآن څخه فتوی اخیستل کیږي، فتوی پرې ورکول کیږي نه
او بې شکه الله دا کتاب د دې لپاره نازل کړی چې ژوندي پرې عمل وکړي، نه دا چې په مړو ولوستل شي.

### ﴿۲۷۵﴾

ما ته شریعت دا ښودلي چې د لاس لنډول د جامو په لنډولو مخکې دي
او د عدل پیاده کول د ږیرو په اوږدولو مخکې دي.

### ﴿۲۷٦﴾

ما ته شریعت دا ښودلي دي چې: دا شریعت نه دی چې
د ډوډۍ غلا کوونکی لاس دې پرېکړل شي
او د هیوادونو غلا کوونکی لاس دې ښکل کړل شي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



### «۲۷۸»

مونږ داسې امت و چې د غرونو په سرونو به مو غنم شيندل
تر څو ونه ويل شي چې په مسلمانو هيوادونو کې مرغان وږي شو
اوس زمونږ په اړه بيړني خبرونه دا شو چې:
«ماشومانو په مکتب کې د مؤسسې لخوا ډوډۍ ترلاسه کړه».

### «۲۷۹»

لومړيو مسلمانانو نړۍ فتحه کړې وه
ځکه چې هغوی به جګړو ته د دې حکم سره تلل: «ونه به نه پرې کوئ»
او ښکاره دا وه چې دوی به يو بل هم نه پرې کول.

### «۲۸۰»

حقيقي غربت دا دی چې د خپل لاس شته، کم وګڼې
او د نورو د لاس شته، ډېر وګڼې.

### «۲۸۱»

تر ټولو زړور مجاهد هغه دی چې د مسلمان د وينې په هکله تر ټولو زيات ډارن وي.

CS CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۸۲﴾

عادي شخص د ځان لپاره محبت کوي
شريف د نورو خلکو لپاره محبت کوي
او سخي د الله لپاره محبت کوي.

﴿۲۸۳﴾

هره ښځينه ښائسته وي
خو هره ښائسته ښځينه نه وي.

﴿۲۸٤﴾

زه ستا په اړه له دغه ستر مسئوليت څخه ويره لرم چې تا ته سپارل شوی دی
دا يو خواشينونکی کار دی چې ته د هغه سياري لپاره يواځينی ښځينه يې چې له نارينه ؤ څخه ډکه ده.

﴿۲۸۵﴾

د خلکو تر لاسه کول مهارت دی
او د هغوی ساتل هوښيارتيا ده.

﴿۲۸٦﴾

کله مونږ خاموش پاتې کيږو، داسې نه چې خاموشي حکمت دی
بلکه له دې امله چې پوهيږو نورې خبرې ګټه نه لري.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۲۸۷﴾

څه خلک شته چې تر لاسه کول یې شوني نه دي
خو له لاسه ورکول یې هم عقلمندي نه ده.

## ﴿۲۸۸﴾

هغه ډېر زیات سخي و، هر څه به یې له نورو سره شریکول
تر دې چې زما رازونه هم!

## ﴿۲۸۹﴾

د بشر د حقوقو تړون وایي:
«هر انسان د زدکړې حق لري»
او اسلام وایي: «د علم لټه فرض ده»
هغوی برلاسې شول، څکه خپل حق یې ترلاسه کړ او مونږ وروسته پاتې
شو، څکه مونږ خپل فرض پرېښودل.

## ﴿۲۹۰﴾

راتلونکي کلونه داسې دي لکه د تلونکو کلونه په څیر
مثال یې په خبري تولګو کې د وژل شوو د شمیر په څیر دی
فقط عدودنه دي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## «۲۹۱»

په کال ۱۳۱۳ میلادي کې «فیلیپ» بادشاه امر وکړ چې په جذام مرض اخته افراد دې ټول وسوزول شي
ځکه اروپا عقیده لرله چې مرض د اسمان لعنت دی
سره له دې چې په کال ۷۰۷ میلادي کې مسلمانانو د دغه مرض لپاره ځانګړی روغتون جوړ کړی و
کله چې مونږ ستر خلک وو.

## «۲۹۲»

زه کوچنی وم، کله چې به زمونږ د جومات شیخ د (ابن السبیل) «مسافر» معنا شرح کوله، نو زه به پرې خفه کېدم
اوس ورسره زه د نیکبختی له امله حسد کوم، ځکه دا هغه خلک دي چې داسې څه نه لري چې د لاسه ورکولو څخه يې وېره وکړي.

## «۲۹۳»

اسلام په توره نه، بلکه په ده کې د پټ حق له امله خپور شوی دی
ګنې اوس به د تورې د له منځه تللو له امله اسلام هم ختم شوی وی
تورې ورته یواځې لاره برابره کړې ده
ځکه هغه حق چې قوت ورسره نه وی، خلک ورسره د باطل په څیر چلند کوي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۹۴﴾

کله چې خفه یم، د مور د مینې خبرې له لاسه ورکوم.
کله چې هغه زما اطاق ته راشي او زه ویښ یم
نو په مینه راته وايي: زویه! ویده شه، پر تا دې احتیاط ویده شي.

﴿۲۹۵﴾

داسې کتاب نشته چې پیلیزه (مقدمه) یې له دې څخه خالي وی چې دا یو نظر دی، څېړنه ده، هڅه ده چې د ښه او خطا احتمال په کې شته پرته له قرآن کریم څخه ﴿ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ﴾[1].

﴿۲۹۶﴾

هر څه پټ ساته، پرته له حقیقتونو څخه، هغه څرګند کړه.

﴿۲۹۷﴾

نبي (علیه السلام) به د خرما تنې ته خطبه ورکوله
کله چې منبر جوړ شو، نو تنې وژړل او هغه ته یې شوق پیدا شو
ای خطیبانو! هغه څه ووایئ چې ستاسې له جدایې وروسته درته د منبرونو شوق پیدا شي
نه هغه څه چې ستاسې د حاضریدو په وخت درباندې لعنت ووايي.

(۱) «په دې کتاب کې هیڅ شک نشته».

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۲۹۸﴾

زه عرب یم، د دنیا لپاره داسې کار کوم لکه چې تل به ژوندی یم
او د آخرت لپاره داسې کار کوم لکه چې کله هم نه مرم
تل د خپل ژوند د ښه والي لپاره کار کوم
زه ستاسې د ټولو په خیر یم، ډېر واښه او پراخه غوجل غواړم.

﴿۲۹۹﴾

په غارونو کې اوسېدونکي انسان ته په کار ده، چې ډېر څه یاد وساتي تر څو ژوند وکړي
او که ښاري انسان ژوند کول غواړي، نو باید ډېر څه هیر کړي.

﴿۳۰۰﴾

کله چې تا ته چا د زړه او عزت تر منځ اختیار درکړ، نو عزت غوره کړه، ګنې دواړه به له لاسه ورکړې
او څوک چې ستا سره مینه کوي، د هغه چا لپاره یې له لاسه مه ورکوه چې ته ورسره مینه لرې، ګنې دواړه به له لاسه ورکړې
او په هغه څه قناعت وکړه چې ستا سره دي، هغه غوره څه به ترلاسه کړې چې د خلکو سره دي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۳۰۱﴾

د قهوې نړیواله ورځ:
داسې ښکاري چې یواځینی شی چې په دې ځمکه کې ځانګړې ورځ نه لري، هغه انسان دی.

﴿۳۰۲﴾

دوی له هرې قبیلې څخه یو یو تن غوره کړ، تر څو هغه مړ کړي نو وینه به یې په ټولو قبیلو تقسیم شي
خو هغه د خپل تره زوی په کور کې پرېښود، تر څو هغوی ته یې امانتونه وسپاري[1]
د خلکو سره د خپل شان مطابق چلند کوه، نه د هغوی د شان مطابق!

﴿۳۰۳﴾

زه به په تاریخ څه رنګ باور وکړم چې «العربیة» تلویزون اوس درواغ جوړوي.

﴿۳۰۴﴾

د پخوانیو خلکو سره کم درمل او ډېر صحت و
وړه بستره او ډېر خوب و
تفریحي سریالونه کم او خندا ډېره وه
ساعتونه کم خو د وخت احساس ډېر و
هغوی داسې کارونه وکړل چې مونږ ترې ناتوانه یو «ژوند» یې وکړ.

---

(۱) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هجرت قصې ته اشاره ده.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۳۰۵﴾

د نن ورځې د ادبیاتو ستونزه دا ده چې لیکوالان ډېر او لوستونکي کم دي
شاعران ډېر او شعر کم دی.

﴿۳۰٦﴾

رمضان راغی خو شر اوس هم په نړۍ کې آزاد ګرځي
زما په باور الله تعالی شیطانان تړي، تر څو وښايي چې نقصان په مونږ کې دی.

﴿۳۰۷﴾

منځلارېتوب د حق او باطل تر منځ د لارې په نیمایي کې درېدل نه دي دا منافقت دی ګرانه!

﴿۳۰۸﴾

پخپلو غمونو مه شرمیږه
کېدای شي دغه ټول هغه څه وي چې ته یې په واک کې لرې
داسې شه لکه تور رنګ چې سپین له ځان څخه نه جوړوي
او همیشني غم ته په درواغجنه خوشحالی لومړیتوب ورکوي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۳۰۹﴾

زموږ ستونزه دا ده چې موږ ديني خلک له دين څخه زيات سپېڅلي
ګڼو
شاعر ته له قصيدې څخه ډېر اهميت ورکوو
واکمن ته د نظام څخه ډېر درناوی لرو
او شخص ته د فکر په قيمت لومړيتوب ورکوو.

﴿۳۱۰﴾

له دې امله چې د غنم وږی د لور لاندې فرياد نه کوي نو دی فکر کوي چې هغه د ده له کار څخه خوند اخلي
که ساده انسان لږ فکر وکړي نو ورته به معلومه شي چې ځيني خلک يې په زخمونو غاښ لګوي، د کمزورۍ له امله نه، بلکه د ژوند د جارۍ ساتلو لپاره.

﴿۳۱۱﴾

په اړيکو کې تر ټولو لومړی له منځه تلونکی شی بې تکلفي ده
بې تکلفي دې ته وايي چې د بل سره داسې خبرې وکړې، لکه د ځان سره يې چې کوې.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۳۱۲﴾

د عاجزۍ او د جومات د قالینو تر منځ کومه اړیکه نشته، که هر څومره هم نرمې شي
څکه مونږ پخپلو زړونو سجده کوو
که د چا په توان کې وي چې خپل زړه نرم کړي، نو دا کار دې وکړي.

﴿۳۱۳﴾

دا ډېره دردوونکې ده چې درته معلومه شي، هغه څوک چې تا دوست گاڼه
هغه ته د ټیکسي موټروان گڼلې
بس هغه غوښتل هر څه ستا په اوږو یو ځای ته ورسوي.

﴿۳۱٤﴾

د سهار په لمونځ کې یو شی شته چې د نورو لمونځونو په څیر نه دی
او نه یې لمونځ کوونکي د نورو لمونځ کوونکو په څېر دي
لکه چې بوډاگان په خپلو امساگانو تکیه نه کوي، بلکه ځمکه په خپل مدار ټینگه ساتي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴿۳۱۵﴾

څلور له څلورو پرته نه ښکاري:
ښځينه توب له حياء پرته
سړيتوب له زړورتيا پرته
واکمني له عدل پرته
او عمل له اخلاص پرته

## ﴿۳۱۶﴾

په دې ورځو کې د ضميرونو ستونزه دا ده چې
د خپلو ځنبتنانو څخه مخکې مړه کيږي.

## ﴿۳۱۷﴾

ژوند زما په هکله د بېړنيتوب توان له لاسه ورکړی دی
په ساده ټکو: زه اوس له هر چا څخه د هر څه طمعه لرلی شم.

## ﴿۳۱۸﴾

کله چې د روم خلک برلاسي شول، نو مسلمانان خوشحاله شول[1].
ځکه چې د روم خلک اهل کتاب و
کله چې دوه باطله په جګړه شي، نو حق به خپل ځان ته نږدې غوره کوي
بېکاره دي هغه خلک چې تل ناپيیلي دريږي.

---

(۱) اشاره ده د روميانو او فارسيانو تر منځ هغه جګړې ته چې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په زمانه کې واقع شوې وه او په سورة الروم کې ورته اشاره شوې ده.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۳۱۹﴾

پخوا به خبري کانالونو يواځې خبرونه نقلول
بيا په کې شريک شول
او اوس يې جوړوي.

﴿۳۲۰﴾

بې عقلان په دې نه پوهيږي چې دوی د لويديځ لپاره يواځې د لرګي آسونه دي
«په پټه د ورتلو او هلته د پټيدو خطرناکه وسله ده»
چې د ښار د فتحه کولو وروسته دغه لرګين آسونه د ګرميدو لپاره د سون مواد جوړيږي.

﴿۳۲۱﴾

د زمانې له مصيبتونو څخه يو دا دی چې مونږ کومو خلکو ته د دې ويلو لپاره ورغلي وو چې:
﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ﴾[1]، «په دين کې زبردستي نشته»
نن راغلي او مونږ ديموکراسي ته مجبوروي.

---

(۱) «په دين کې زبردستي نشته». سورة البقرة:۲۵۶.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



### ﴿۳۲۲﴾

کله چې مونږ پر تاسې نیوکه کوو، نو مونږ ستاسې په اسلام کې شک نه لرو
بلکه د اسلام په اړه ستاسې په پوهه کې شک لرو
او کله چې مونږ ستاسې د غلطو کړنو په مخکې درېږو
نو د دې معنا دا نه ده چې مونږ ستاسې د دښمنانو په صف کې یو،
بلکه د اسلام په صف یو.

### ﴿۳۲۳﴾

د لوړو خلکو ستونزه دا ده چې دوی په دې نه پوهیږي چې د خلکو د پورته کولو غوره لار هغوی ته راښکته کېدل دي.

### ﴿۳۲٤﴾

که غواړې د اسلام شکل بد رنګه کړې، د دیموکراسی کالي ورواغوندوه.

### ﴿۳۲۵﴾

د واده مخکې د واده کړو نصحیتونو ته غوږ مه نیسه
خو په دې پوهه شه چې ستا خواښې داسې ده لکه امریکا
که درڅخه خوشحاله وه، نو ته به د دې ځمکې نازولی یې
او که درڅخه خفه وه، نو د ترورستانو په لست کې دې شاملوي.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



**{۳۲۶}**

که مونږ جنت ته د ځان داخلولو اړخ ته دومره پاملرنه کولی، څومره چې
جهنم ته د نورو د داخلولو اړخ ته پاملرنه کوو
نو په دنیا او آخرت کې به راڅخه هیڅوک هم نه وی مخکې شوی.

**{۳۲۷}**

ژوند داسې دی لکه موټر چې د مخکې تګ لپاره جوړ شوی
خو کله د لارې د اسانتیا په خاطر لږ شا تګ هم اړین وي.

**{۳۲۸}**

هغه د ده په وینه کې روانه وه، ده فیصله وکړه چې ځان تېپي کړي، تر څو
له هغې څخه خلاص شي
کله چې ترې وینه روانه شوه، نو ورته معلومه شوه، چې اوس ورسره له
پخوا څخه ډېره مینه لري
او دی یواځې له هغه وینې څخه خلاص شو چې لږه مینه یې ورسره
درلوده.

**{۳۲۹}**

په دوه سړو خفه کیږم:
یو هغه چې ته ورسره مینه نه کوي او بل هغه چې تا سره مینه نه لري.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



﴿۳۳۰﴾

د تقوا د بانک تضمین لیک:

﴿وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا﴾[1].

«او ویره دې وکړي هغه خلک که چېرې دوی خپل شاته کمزوري اولادونه پرېږدي، نو دوی پرې ویرېږي، نو د الله څخه دې تقوا اختیار کړي او د حق وینا دې وکړي».

﴿۳۳۱﴾

ډېرې کرې وړې لارې شته، چې مونږ په کې «هو» ویلی شو.
خو د نه ویلو لپاره د یوې لارې پرته نورې لارې نشته او هغه ده «نه».

﴿۳۳۲﴾

حیرانوونکې دا ده چې
هغه کسان چې په جنت او دوزخ خلک تقسیموي
هغوی د دسترخوان چاپېره خپل اولاد نه شي تقسیمولی.

﴿۳۳۳﴾

ای الله ستا څخه پناه غواړم چې د «غزې»[2] په خیر شم
چې دښمنان را ته یو شي او دوستان راڅخه جلا شي.

---

(۱) سورة النساء:۹.

(۲) اصل کې دا «سوریا» وه، خو د مناسبت له امله «غزه» وژباړل شوه.

CamScanner

Made with Xodo PDF Reader and Editor



## ﴾٣٣٤﴿

دا خبره مه منئ چې: څه رنګ تاسې يې هم هغه شان به دربانديې واکمن شي
بلکه خلک د خپلو واکمنو په طريقه روان وي
علي (رضي الله عنه) عمر (رضي الله عنه) ته وويل:
اې د مؤمنانو اميره! تا ځان ساتلى، نو خلکو هم ځانونه ساتلي، که تا وهنه پيل کړه، خلک به هم وهنه پيل کړي.

## ﴾٣٣٥﴿

د اسرائيلي اشغالګر دولت عمر ٧٧ کلونو ته ورسيد.
که مونږ هغه شان پاک وى چې دعوه يې لرو
نو دا زناکاره به د دومره وخت لپاره زمونږ په منځ کې نه وى پاتې شوى.

CamScanner

**ضروري خبرتیا:** ملګري که ته نوې کتابونه لرې او تر اوسه نوې سکن شوې، نو سکن يې کړئ او موږ ته يې واستوئ، ځکه دغه دومره سخت کارنده. یا هم لیکوال یاست په خپرولو کې موږ مرسته د رسره کووېان شاء الله چې تاسو اجازه راکړئ موږ به يې نشر کړو که په هره ژبه او هره برخه کې وي، تر څو موږ يې له نورو مسلمانانو سره شریک کړو او په ثواب کې سره شریک شو، موږ ته يې په دې لاندې نمبر په ټلیګرام

کې را واستوئ: +93789212634 📱

**یادونه:** داچې زموږ د کتابتون په نامه کاپي کتابتونونه جوړ شوي نو هیله ده زموږ چینل ددغه لاندني [ Join ] بټني له لارې جوین کړئ، لومړی له انټرنیټ سره وصل شئ، بیا باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ که مود ټلیګرام اکونټ وي ډیر ښه که نوې نو جوړيې کړئ او ورسته په دغه بټنه کیکارئ او ورسته به تاسو زموږ چینل ته بوځي هغه Join کړئ او نور تاسو زموږ د کتابتون له کورنۍ سره یوځای یاست!.

JOIN

paktekawalAfghan

Made with Xodo PDF Reader and Editor

## د کتاب له متن ځنې:

(۱)

مخکې له دې چې ځان ته د خپلوانو له امله پېغور ورکړې، پند ساته چې

نوح (علیه السلام) نافرمانه زوی درلود.

ابراهیم (علیه السلام) مشرک پلار درلود.

لوط (علیه السلام) کافره مېرمن درلوده.

بي بي آسیې داسې خاوند درلود چې ویل یې: زه ستاسې لوی خدای یم

او محمد (صلی الله علیه وسلم) د ابولهب په نوم کاکا درلود.

(۶)

داسې څوک پیدا کول آسان دي چې شکایت ترې وکړې، خو داسې څوک پیدا کول سخت دي چې شکایت ورته وکړې.

داسې څوک پیدا کول آسان دي چې خبرې پورې وکړې، خو داسې څوک پیدا کول سخت دي چې خبرې ورته وکړې

داسې څوک پیدا کول آسان دي چې ترې وتښتې، خو داسې څوک پیدا کول سخت دي چې ورته وتښتې.

چاپچارې
سلام خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه - جلال آباد
Salam Publications سلام خپرندویه ټولنه

CamScanner